



Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

## مسلمانو ماشومانو لپاره

# سل احادیث

د نجونو مدرسو لپاره ځانګړې ډالۍ

لیکوال: مولوي محمد غني فاروقي

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

باور خپرندویه ټولنه
ننګرهار - افغانستان

## د کتاب ځانګړني:

د کتاب نوم : مسلمانو مېرمنو لپاره سل احادیث

لیکوال : مولوي محمد غني فاروقي

اړیکې : 0799800935

ghanifarooqi143@gmail.com

کمپوز او ډیزاین : عبید الله فاروقي (0782122678)

چاپ کال : ۱۳۹۶هـ ش

چاپ شمیر : ۱۱۰۰ ټوکه

د خپرونو لړ : څوارلسم (۱۴)

د چاپ حقوق له خپرندوی ټولنې سره خوندي دي

باور کتاب پلورنځی، لاندینی پوړ، اسحاق زي مارکېټ، بزازی څلورلارې، جلال اباد.

اړیکه:077-2702004 , 078-7730005 , 079-5353610

ketabton.com - The Digital Library

# ډالۍ؛

**د سترګو تور ته!**

**هغه چې اوس یې نه لرم.**

**هو؛ د خپلې ګرانې مور مسافرې اروا ته.**

م. غ فاروقي

ketabton.com - The Digital Library



# مسلمانو خویندو ته ډالی!

اسلام د خير دين دی، دين مو عقيده، شريعت او عمل په غېږه کې رانغاړي، په دې مانا چې ددې غوره شريعت او اسماني منهج لارښوونې نارينه او ښځينه و ټولو لپاره دي، قران کريم ټولو لپاره دی، نبوي احاديث ټولو لپاره دي، هو؛ ټول، هغوی يادوم چې د زړونو په ماڼيو کې يې د ايمان پانوس روښانه او څرګنده کړنې يې هم د ايمان او سپېڅلي سيرت استازيتوب کوي.

پر همدې بنسټ چې اسلامي او مذهبي ډېری مکلفيتونه د نارينه او ښځينه و ترمنځ مشترک دي، هغه که عقيدوي مکلفيتونه دي او که عملي، همدې ګډو مسؤليتونو ته په پام ما وغوښتل چې د محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم د احاديثو له بڼ نه د ګوتو په شمېر څو داسې بېلګې راواخلم او د مسلمانو خويندو مخې ته يې کېدم چې ډېری نبوي لارښوونې يې مسلمانو مېرمنو ته متوجې دي، که څه هم چې د محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم د مبارکې ژبې خوږو خبرو او وحيي پيغامونو کې نارينه او ښځينه و ټولو ته درس او سپارښتنې وي، مګر دې لپاره چې مسلمانې مېرمنې په ځانګړې توګه د خپل ژوند، عقيدې او عمل برخه کې ځينې نبوي لارښوونې مطالعه او ترلاسه کړي، دې کتاب کې ځينې داسې احاديث هم شته چې د منځپانګې له مخې يې حکم او لارښوونه عملي بڼه لري، ډېر ځلې داسې هم کېږي چې نارينه ځينې شرعي لارښوونې ښځمنو ته منسوبوي او ځانونه ترې جدا ګڼي او کله بيا ښځمنې ځينې شرعي او نبوي لارښوونې پرېدي او وايي دا له نارينه و پورې اړه لري، هو؛ داسې بېلګې شته، مګر د محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم ډېری احاديث عمومي بڼه لري، نارينه او ښځينه ټول په کې مراد وي.

ketabton.com - The Digital Library



**ګرانقدره خوېندو!**

ماهم په دې هيله چې د نورو ليکنو په څنګ کې مې د مسلمانو خويندو لپاره هم څه مانيز سوغات برابر کړی وي، هڅه وکړه چې مسلمانې خويندې مې هم بې برخې پاتې نه شي او د (برګ سبز تحفه درويش) پر پلمه مې دوی ته ډالۍ کړ.

نور نو ستاسو د وخت زرينې شېبې نه نيسم، په دې هيله چې تاسو درنې او عزتمنې ترې ګټه ترلاسه کړئ او د رب العالمين د رضا سبب وګرځي.

د باور خپرندويه ټولنې له مشر قاري قدرت الله تائب څخه مننه کوم چې د کتاب لګښت يې پر ځان ومانه، د ديني عالم مولوي صيب ګل رحيم نادر ځای دې جنت شي چې شخصية المرأة المسلمة کتاب يې د يو مأخذ په توګه زما په واک کې راکړ.

عبيدالله فاروقي دې هم د ژوند په خوږو موړ شي چې د کتاب کمپوز يې وکړ، عبدالهادي اثر دې هم ښاد شي چې د کتاب پښتۍ يې ډيزاين کړه.

رقيه فاروقي او آسيه فاروقي له مرستو هم منندوی يم چې د اړتيا پر مهال يې ځانته نه يم پر ايښی، له تاسو ټولو ورونو او خويندو منندوی يم چې کتاب لولئ، ستاسو د لارښوونو او رغنده نيوکو په هيله.

ستاسو ورور محمد غني فاروقي

جمعې شپه / جومات کور

جلالکوټ

ketabton.com - The Digital Library



# لیکلړ


مسلمانو خویندو ته ډالۍ! .......................... 1
د عملونو بنسټ .................................... 7
د ایمان ارکان ........................................ 7
داسلام خېمه ........................................ 8
هغه بختوره مېرمن چې نکاح یې له اسمانونو بره شوې.............. 8
له مېرمن سره دې حج ته لاړ شه! .......................... 9
لېور مرګ دی! ........................................ 10
د درېو شپو سفر؟ .................................... 12
د سنګر اتلانې ........................................ 15
د ام حرام رضی الله عنها مېړانه او شهادت .................. 15
جنتي مور ............................................ 17
د نړۍ تر ټولو خوږو څېره .......................... 18
د فطرت هېنداره .................................... 19
د غاښونو نظافت او ښکلا .......................... 20
له خپلو وېښتانو سره مینه وکړئ! ...................... 21
علمي ګانه مو هېره نه شي .......................... 24
غوره مېرمنې ........................................ 25
د ښځو احتلام؟! .................................... 26
فالګر ته مه ورځئ! .................................. 27

ketabton.com - The Digital Library



فولادي ډال........................................................28
د مور چوپړ د کرامت شمله ده!......................................29
د مسلمانې مېرمن جنت او دوزخ؟!.....................................32
جنتي مېرمن........................................................34
د جنت زېری........................................................35
رانجه به پورې نه کړم!..............................................36
پر مسلمانې مېرمن پرښتې لعنت وايي!.................................37
پام! چې روژه نه شي!................................................38
د خاوند په مال کې دومره واک لرې!...................................39
د احرام جوړه!......................................................40
پر خاوند دې خوشبويي وشينده!.......................................40
مېرمن خپل خاوند ته سر ږمنځولی شي؟!.................................41
مسلمانو مېرمنو! صدقې ورکړئ!.......................................42
راز وساته!.........................................................44
لومړنۍ مسلمانه مېرمن...............................................48
مسلمانه مېرمن یو پر بل تهجد کوي....................................48
سينګار.............................................................49
د جنتي خوشبويانو سرداره............................................49
درې شپې که څلور میاشتې او لس ورځې؟!................................50
اللّٰه تعالی کومې مېرمن ته نه ګوري؟!...................................50
د حجاب ګاڼه........................................................51

ketabton.com - The Digital Library



د مهرباني مور نازولي جوړه! ........................................51
د مسلماني مېرمن څلور ځانګړني........................................53
د مسلماني مېرمن سوغات........................................54
کوم يو ته ډالۍ واستوم؟! ........................................56
جنتي مېرمن........................................56
مسلمانه مېرمن او اسلامي نړۍ ........................................57
بدګوماني ستر دروغ دي........................................59
مسلماني مېرمن سره ملنډې نه ښايي ........................................59
فطرتي ګاڼه ........................................60
اخلاقي ښايست........................................61
مسلمانه مېرمن به داسې نه وي؟!........................................62
مسلمانه مېرمن ښايي داسې وي!........................................63
د ملائکو د دعا په لړه کې........................................63
د زهرو ډالۍ........................................64
د ميني د امېل دوه کړۍ!........................................66
مېلمه پالې مېرمنې........................................67
مېلمه خپل حق اخيستلی شي؟!........................................68
د فطرت سنت ........................................69
د سلام سوغات ورسوئ! ........................................69
مرتبې په پام کې ونيسئ!........................................71
اصيله فطرتي بڼه ........................................71

ketabton.com - The Digital Library



زړه چې درمن شي، سترګې ژاړي...............................75
مسلمانه مېرمن دې ويرګره نه وي...............................75
هغه کور چې شيطان ترې دوه ځلې ناهيلی وتلی ...................76
هره اوربدل شوې خبره مه خپروئ! ...............................78
مسلمانې مېرمنې جوماتونو ته تللی شي؟! .........................80
پېنځه ډالی.......................................................80
د ځمکې له کومې ګانې سره مينه لرئ؟! ...........................81
وېښتان هم ناز غواړي! ..........................................83
سپين په تور مه بدلوئ!..........................................84
له تا سره لمونځ مې خوښېږي.....................................86
سل تسبيح، زر نېکی ...............................................88
په اسلام کې لومړی شهيده ........................................89
ارايشګرې دې يې هرو مرو ولولي!.................................91
نظر او خيال .......................................................93
د دنيا او اخرت غوره ډالی .........................................94
زړه د اخلاقو کان دی!...........................................94
صلاۃ التسبيح ......................................................97
صلاۃ حاجت ......................................................98
د استخارې لمونځ .................................................99
له مجلس نه د پاڅېدلو دعا......................................100

ketabton.com - The Digital Library



## ﴿ د عملونو بنسټ ﴾

١)ـ عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رضى الله عنهما، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم: إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّةِ، وَإِنَّمَا لِامْرِئٍ مَا نَوَى، فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى اللهِ وَرَسُولِهِ، فَهِجْرَتُهُ إِلَى اللهِ وَرَسُولِهِ، وَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ لِدُنْيَا يُصِيبُهَا أَوِ امْرَأَةٍ يَتَزَوَّجُهَا، فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ .

**ژباړه : اميرالمؤمنين عمر بن الخطاب رضى الله عنهما د حديث راوي دی وايي: له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه مې اوريدلي چې ويل يې په يقينی ډول د عملونو تړاو له نيتونو سره دی او يقيناً د هر کس لپاره هغه څه دي چې يې نيت کړی وي، نو دچا هجرت چې د الله او د رسول صلى الله عليه وسلم لپاره وي نو هجرت دده الله او رسول لپاره دی او د چا هجرت چې ددنيا د لاسته راوړنې يا کومې ښځې سره د واده کولو لپاره وي نو دده هجرت دهغه څه لپاره دی څه لپاره چې ده هجرت کړی دی.**[1]

## ﴿ د ايمان ارکان ﴾

٢)ـ (الْإِيمَانُ أَنْ تُؤْمِنَ بِاللهِ، وَمَلَائِكَتِهِ، وَكُتُبِهِ، وَرُسُلِهِ، وَالْيَوْمِ الْآخِرِ، وَتُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ) [2]

**ژباړه: په حديث جبريل کې د ايمان تعريف داسې شوی:**

**چې پر الله تعالى ايمان ولرې د هغه پر ملائکو، د هغه پر کتابونو، د هغه پر رسولانو او د اخرت په ورځ او د خير او شر په تقدير ايمان ولرې.**

---

[1] صحيح مسلم 3/ 1515

[2] صحيح مسلم (1/ 37)

ketabton.com - The Digital Library



# ﴿ داسلام خېمه ﴾

٣)ـ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضى الله عنهما قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم " بُنِيَ الإِسْلاَمُ عَلَى خَمْسٍ: شَهَادَةِ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، وَإِقَامِ الصَّلاَةِ، وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ، وَالحَجِّ، وَصَوْمِ رَمَضَانَ.

**ژباړه :له عبدالله بن عمر رضی الله عنهما څخه روایت دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: د اسلام ابادي په پنځو شيانو شوې ددې ګواهي کول چې نشته لايق د بنده ګی پرته د الله نه او ددې چې محمد د الله رسول صلی الله علیه وسلم دی،دلمانځه پابندي کول،دزکات ورکول،حج کول او د رمضان د مياشتې روژې نيول.** [1]

## ﴿ هغه بختوره مېرمن چې نکاح يې له اسمانونو بره شوې ﴾

**د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مېرمنو لړ کې زينب بنت جحش رضی الله عنها هغه سپېڅلې او عزتمنده مېرمن ده چې له يو لوري يې سپېڅلی ياد د سپېڅلي کتاب قران کريم په پاڼو کې راغلی هغه مهال چې د احزاب سورت لاندې ايت نازل شو :**

وَإِذْ تَقُولُ لِلَّذِيٓ أَنْعَمَ ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَأَنْعَمْتَ عَلَيْهِ أَمْسِكْ عَلَيْكَ زَوْجَكَ وَٱتَّقِ ٱللَّهَ وَتُخْفِي فِي نَفْسِكَ مَا ٱللَّهُ مُبْدِيهِ وَتَخْشَى ٱلنَّاسَ وَٱللَّهُ أَحَقُّ أَن تَخْشَىٰهُ ۖ فَلَمَّا قَضَىٰ زَيْدٌ مِّنْهَا وَطَرًا زَوَّجْنَٰكَهَا لِكَيْ لَا يَكُونَ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ حَرَجٌ فِيٓ أَزْوَٰجِ أَدْعِيَآئِهِمْ إِذَا قَضَوْاْ مِنْهُنَّ وَطَرًا ۚ وَكَانَ أَمْرُ ٱللَّهِ مَفْعُولًا ﴿٣٧﴾

---

[1] صحيح البخاري 1/ 11

ketabton.com - The Digital Library



**د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر شونډو خوږه موسکا خپره وه او ویل یې:((څوک به زینب رضی الله عنها ته لاړ شي چې دا زېرى هغې ته ورکړي چې الله تعالی له اسمانونو بره د هغې واده له ماسره وکړ ))؟**

**دا ځانګړی شرافت و چې الله تعالی پرې زینب رضی الله عنها د مومنانو له نورو مېندو ځانګړې کړې، زینب رضی الله عنها به د الله له لورې ددې شرافت او لورینې پر بنسټ ځان تر نورو عزتمند ګاڼه، ویاړ به یې کاوه، پر نورو مېرمنو به یې ځان ستر ګاڼه او ویل به یې :**

۴) ـ (زَوَّجَكُنَّ أَهْلُكُنَّ وَزَوَّجَنِي اللَّهُ مِنْ فَوْقِ سَبْعِ سَمَاوَاتٍ) [1]

**ژباړه : ستاسو د واده چارې ستاسو د کورنیو غړو برابرې کړي او زما واده له محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم سره الله تعالی له اووه اسمانونو پورته کړی.**

## ﴿ له مېرمن سره دې حج ته لاړ شه! ﴾

۵)ـ عَنْ أَبِي مَعْبَدٍ رضی الله عنه ، قَالَ: سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ رضی الله عنهما ، يَقُولُ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صلی الله علیه وسلم يَخْطُبُ يَقُولُ: لَا يَخْلُوَنَّ رَجُلٌ بِامْرَأَةٍ إِلَّا وَمَعَهَا ذُو مَحْرَمٍ، وَلَا تُسَافِرِ الْمَرْأَةُ إِلَّا مَعَ ذِي مَحْرَمٍ، فَقَامَ رَجُلٌ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنَّ امْرَأَتِي خَرَجَتْ حَاجَّةً، وَإِنِّي اكْتُتِبْتُ فِي غَزْوَةِ كَذَا وَكَذَا، قَالَ: «انْطَلِقْ فَحُجَّ مَعَ امْرَأَتِكَ.[2]

**ژباړه: ابو معبد د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت کړی، ابن عباس رضی الله عنهما وایي : له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه مې یوه خطبه کې داسې واورېدل، چې ویل یې: خلوت دې نه کوي یانې هېڅ سړی دې له یوې پردۍ ښځې سره نه یوځای کېږي، مګر په**

---

[1] **سنن الترمذي ت شاكر (5/ 355) امام الالباني رحمه الله پرې د صحیح حکم کړی.**

[2] صحيح مسلم (2/ 978)

ketabton.com - The Digital Library



داسې حال کې چې له هغې سره شرعي محرم موجود وي او سفر دې نه کوي ښځه مگر له محرم سره يو سړی ودرېد ويې ويل: ای د الله رسوله ! زما مېرمن حج ته تللې او زما نوم په فلانکی فلانکی غزا کې ليکل شوی.
رسول الله صلی الله عليه وسلمورته وويل: لاړ شه له خپلې مېرمن سره دې حج وکړه.

**گټه:** د حديث نه معلومېږي چې مسلمانه ښځه دې له پردي نارينه سره نه يو ځای کېږي او دا د مسلمانې مېرمن عقيدوي مکلفيت دی، چې د الله تعالی او د هغه د رسول په بشپړ ډول اطاعت وکړي او خبره يې ومني، محرم هر هغه چا ته ويل کېږي چې له هغه سره د ښځې واده کول تل لپاره حرام وي، لکه: پلار، ورور، تره، ماما او داسې نور.
او اجنبي هغه چا ته ويل کېږي چې هغه سره له اصله (اره) واده کول روا وي که څه هم چې د خپلوانو له جملې څخه وي په ځانگړي توگه د مېړه ورور او دې ته ورته نور خپلوان، ددې ټولو سره خلوت او ځانته کېدل حرام دي.

## ﴿ لېور مرگ دی! ﴾

٦)ـ محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم ويلي: ( إِيَّاكُمْ وَالدُّخُولَ عَلَى النِّسَاءِ فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الأَنْصَارِ: يَا رَسُولَ اللَّهِ صلی الله عليه وسلم ، أَفَرَأَيْتَ الحَمْوَ؟ قَالَ: الحَمْوُ المَوْتُ) [1]

ژباړه : ښځو ته له ورتگ نه ځان وساتئ!

يو انصاري وويل : ای د الله رسوله! د لېور په اړه معلومات راکړئ؟

---

[1] صحيح البخاري ٧/٣٧

ketabton.com - The Digital Library



رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل : لېور مرګ دی.
رسول الله صلی الله عليه وسلم چې د لېور يادونه وکړه، مانا او موضوع يې داوه چې څومره د شر او فساد وېره چې له لېور نه کېږي، هومره له بل چا نه، نه کېږي، ځکه ده لپاره د ورور کور ته په ننوتلو، تلو او راتلو کې اسانتيا ډېره وي.
لېور يې پر مرګ د سختې وېرې او هيبت له امله نوملی.
ګوا چې لېورونو سره د تنداريانو خلوت، يو ځای کېدل، فساد، فتنې، کړوالی او په دين کې هلاکېدلو ته دومره انسان رسوي، لکه څنګه چې مرګ انسان د ژمکې له مخ نه لرې کوي.
پر همدې بنسټ د مسلمانې مېرمن مسؤليت دادی چې د ژوند په نړۍ کې به له دا ډول شرعي مخالفتونو څخه ځان په کلکه ساتي، دا مهال ډېری مسلمانان نارينه او ښځينه دا ډول شرعي مقرراتو ته پاملرنه نه کوي.
پر مسلمانې مېرمن لازم دي، چې د ژوند په نړۍ کې له کور نه د وتلو پر مهال د شرعي حجاب پر ښکلي پوښاک ځان وپوښي، خپله څرګنده ښه پر داسې اسلامي ښه جوړه کړي چې له اغېز نه يې د سيرت پټ ساتل شوی چاپيريال لا نور هم وساتل شي او د ناوړه عقيدې او منافقانو شرمخانو له داړلو وژغورل شي.

۷)ـ ( عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضی الله عنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صلی الله عليه وسلم: «صِنْفَانِ مِنْ أَهْلِ النَّارِ لَمْ أَرَهُمَا، قَوْمٌ مَعَهُمْ سِيَاطٌ كَأَذْنَابِ الْبَقَرِ يَضْرِبُونَ بِهَا النَّاسَ، وَنِسَاءٌ كَاسِيَاتٌ عَارِيَاتٌ مُمِيلَاتٌ مَائِلَاتٌ، رُءُوسُهُنَّ كَأَسْنِمَةِ الْبُخْتِ

ketabton.com - The Digital Library



الْمَائِلَةِ، لَا يَدْخُلْنَ الْجَنَّةَ، وَلَا يَجِدْنَ رِيحَهَا، وَإِنَّ رِيحَهَا لَيُوجَدُ مِنْ مَسِيرَةِ كَذَا وَكَذَا)[1]

**ژباړه: ابو هريره رضی الله عنه د حديث راوي دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: دوه ډوله دوزخيان دي چې ليدلي مې نه دي، يوه ډله هغه خلک دي چې له هغوی سره به د غوايانو د لکيو په څېر قمچينې وي چې خلک به پرې وهي، بله ډله هغه ښځې دي چې پټې بربنډې وي، خلک به ځان ته راجلبوي، سرونه به يې د خراساني اوښانو د بوکانو په څېر اوچت او مايل وي، دا ښځې جنت ته نه شي داخلېدلی، حال دا چې د جنت خوشبويي له لرې واټن څخه محسوسيږي.**

**رسول الله صلی الله عليه وسلم دا ښځې پټې بربنډې بللي، ځکه هغوی سره له دې چې جامې اغوندي، مګر بيا هم هغوی بربنډې دي، ځکه د هغوی جامې د نري والي له امله د پټوالي دنده نه ترسره کوي، په اوسني عصر کې د ډېرو ښځو جامې دغه شان وي.** [2]

**ځينې وايي : د پټو بربنډو څخه هدف دادی چې دوی بدن پټوي، مګر پړونی له ځان پورې کلک تاووي، جامې داسې تنګې جوړوي چې د بدن غړي يې جلا جلا معلومېږي.** [3]

## ﴿ د درېو شپو سفر؟ ﴾

**اسلام د قران او نبوي سنتو په غبرګو پلوشو کې مسلمانې مېرمن ته د ژوند په پراخه نړۍ کې د نورو ټولو مالي او مانيزو حقونو سربېره له کور**

---

[1] صحيح مسلم ٣/١٦٨٠

[2] الحلال و الحرام فی الاسلام ٢٣ مخ

[3] شرح النووي ١٧ج- ١٩٠ مخ/ د قيامت علامې الدكتور يوسف بن عبدالله الوابل

ketabton.com - The Digital Library



**نه بهر د وتلو برخه کې هم داسې بنسټيزې سپارښتنې کړي چې پر عملي کولو يې مؤمنه مېرمن ددنيا او اخرت په جوړه نړيو کې له نېکمرغۍ څخه برخمنه کېږي او هم يې د سپېڅلي روح مرغلرين قنديل له مکروبي حشراتو ساتل کېږي.**

**۸)ــ** (عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضى الله عنهما، أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم قَالَ: «لاَ تُسَافِرِ المَرْأَةُ ثَلاَثَةَ أَيَّامٍ إِلَّا مَعَ ذِي مَحْرَمٍ)[1]

**ژباړه: ابن عمر رضى الله عنهما د حديث راوي دی، رسول الله ويلي: ښځه دې درې ورځې سفر نه کوي، مګر له خپل شرعي محرم سره.**

**همدا راز صحيح مسلم کې حديث دی، عبدالله ابن عمر رضی الله عنهما د حديث راوي دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي:** (عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رضى الله عنهما، عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم، قَالَ: لَايَحِلُّ لِامْرَأَةٍ، تُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ، تُسَافِرُ مَسِيرَةَ ثَلَاثِ لَيَالٍ، إِلَّا وَمَعَهَا ذُو مَحْرَمٍ)[2]

**ژباړه: هېڅ يوې مېرمنې ته چې پر الله تعالی او د اخرت په ورځ ايمان لري، روا نه دي چې درې شپې (ځانته) سفر وکړي، مګر په داسې حال کې يې کولی شي چې شرعي محرم ورسره وي.**

---

1 صحيح البخاري ۲/۴۳

2 صحيح مسلم ۲/۹۷۵

ketabton.com - The Digital Library



# ﴿ مسلمانه مجاهده او طبيبه مېرمن ﴾

د مسلمانې مېرمن شخصيت هغه مهال لا زيات روښانه او ځلانده شو، کله چې الله تعالی د غوره زمانو په غېږه کې ددې بشري حورې پر جبين د ايمان او اسلام تجلې او پلوشې ولورولې، همدا لامل و چې د مسلمانې مېرمن د زړه په محل کې د الله تعالی او رسول الله د مينې رڼاگانو خپلې پلوشې غاړه په غاړه کولې او هڅه يې کوله چې د توحيدد سپېڅلي بيرغ د رپاند ساتلو لپاره د محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم تر مشرۍ لاندې د جهاد په سنگرونو کې د خپلو پلرونو، ورونو او خاوندانو په څنگ کې ودرېږي، د هغوی همتونه لوړ کړي، ملاوې ور وتړي، د ټپيانو ټپونو ته دوا او مرهم برابر کړي، ډاډگېرنه ورکړي، د ناروغانو پوښتنه وکړي او په ټوليز ډول د سنگر زلميانو ته زړه ورکړي چې پايله کې د عزت دين لا نور هم پياوړی او عزتمن شي.

٩) ـ عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ الْأَنْصَارِيَّةِ رضی الله عنها ، قَالَتْ: «غَزَوْتُ مَعَ رَسُولِ الله صلی الله عليه وسلم وَسَلَّمَ سَبْعَ غَزَوَاتٍ، أَخْلُفُهُمْ فِي رِحَالِهِمْ، فَأَصْنَعُ لَهُمُ الطَّعَامَ، وَأُدَاوِي الْجَرْحَى، وَأَقُومُ عَلَى الْمَرْضَى) [1]

ژباړه: ام عطيه رضی الله عنها وايي: له گرانقدره پيغمبر صلی الله عليه وسلم سره مې اووه غزاگانو کې گډون کړی د هغوی د سامانونو او کاليو لپاره به مې د هغوی د ځای ناستي په توگه دنده سرته رسوله، خوراک څښاک به مې هغوی ته برابرول، د ټپيانو د ټپونو درملنه به مې کوله او همدا راز به مې د ناروغانو چوپړ کاوه.

انس بن مالک رضی الله عنه د حديث راوي دی، دی وايي: رسول الله به ام سلمة رضی الله عنها او د انصارو له مېرمنو څخه يوه ډله له ځان

---

[1] صحيح مسلم ٣/١٤٤٧

ketabton.com - The Digital Library



سره غزا ته ملګرې کوله، بيا به نو هغوى (د جهادي سنګر اتلانو ته) اوبه ورکولې او هم به يې د ټپيانو د ټپونو درملنه کوله. [1]

## ﴿ د سنګر اتلانې ﴾

۱۰)ـ (عَنِ الرُّبَيِّعِ بِنْتِ مُعَوِّذٍ رضى الله عنهما ، قَالَتْ: «كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم نَسْقِي وَنُدَاوِي الجَرْحَى، وَنَرُدُّ القَتْلَى إِلَى المَدِينَةِ )[2]

ژباړه: ربيع بنت معوذ رضى الله عنهما ويلي: موږ به له نبي صلى الله عليه وسلم سره غزا کې ملګري و، غازيانو ته به مو اوبه ورکولې، د ټپيانو درملنه به مو کوله او شهيدان به مو مدينې منورې ته راليږدول.

## ﴿ د ام حرام رضى الله عنها مېړانه او شهادت ﴾

۱۱) ـ ( عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الأَنْصَارِيِّ رضى الله عنهما ، قَالَ: سَمِعْتُ أَنَسًا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، يَقُولُ: دَخَلَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم عَلَى ابْنَةِ مِلْحَانَ، فَاتَّكَأَ عِنْدَهَا، ثُمَّ ضَحِكَ فَقَالَتْ: لِمَ تَضْحَكُ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ فَقَالَ: نَاسٌ مِنْ أُمَّتِي يَرْكَبُونَ البَحْرَ الأَخْضَرَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، مَثَلُهُمْ مَثَلُ المُلُوكِ عَلَى الأَسِرَّةِ ، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ ادْعُ اللَّهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ، قَالَ: «اللَّهُمَّ اجْعَلْهَا مِنْهُمْ)(3)

ژباړه: عبدالله بن عبدالرحمن انصاري د انس رضى الله عنهما نه روايت کوي، وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم د مِلحان د لور (اُم حرام رضى الله عنها) کور ته ورغى، هلته يې ډډه ووهله، بيا يې وخندل.

د ملحان لور ورته وويل : يا رسول الله صلى الله عليه وسلم! ولې مو وخندل؟

---

[1] رواه مسلم

[2] صحيح البخاري ۴/۳۴

[3] صحيح البخاري (4/ 33)- شخصية المراة المسلمة ۸۲ مخ

ketabton.com - The Digital Library



رسول الله  وويل : زما د اُمت ځينې کسان به په شين سمندرگي کې جهاد لپاره سفر کوي، د دوی مثال به داسې وي لکه بادشاهان په کورنيو.

اُم حرام رضی الله عنها وويل : ای د الله رسوله!

الله تعالی نه وغواړه چې ما له دوی څخه کړي!

رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل : ( أَنْتِ مِنَ الأَوَّلِينَ، وَلَسْتِ مِنَ الآخِرِين) ته له لومړنيو څخه يې او نه يې له وروستنيو څخه.

او د رسول الله صلی الله عليه وسلم دا زيری هغه مهال ثابت او په حقيقت بدل شو، کله چې يادې مېرمن له عبادة بن الصامت رضی الله عنه سره واده وکړ او له هغه سره د جهاد په نيت روانه شوه، سمندري بېړۍ کې د معاويه رضی الله عنه له مېرمن قرظة سره کېناسته، کله چې راستنه شوه، په سورلۍ سپره شوه، د سورلۍ ځاروي يې شوخي وکړه، ټوپونه يې کړل، اُم حرام رضی الله عنها ترې راوغورځېده او شهيده شوه. [1]

ددې اتلې او مجاهدې مېرمن قبر تر نن ورځې د يو سپېڅلي ځلي او منار په توگه په قبرص کې پاتې دی، خلك يې د الله تعالی په لاره کې د مجاهدې او مسلمانې مېرمن په صفت ياد کوي، د هغې له قبر سره څو شېبې درېږي او وايي: دا د هغه نېکې مېرمن قبر دی چې الله تعالی په رحمت نازولې. [2]

همدا راز ددې په څېر نورو ډېرو مېرمنو د اسلام د مرستې او د الله تعالی د لارې په جهاد کې په مينه گډون کړی، د بېلگې په توگه له

---

[1] فتح الباري ٦جلد- ٧٦ مخ، کتاب الجهاد

[2] الحلية ٢ج- ٦٢ مخ، الصفة الصفوة ٢ج- ٧٠ مخ

ketabton.com - The Digital Library



رسول الله   سره به ام ايمن رضی الله عنها غزاګانو ته حاضرېدله، دا مجاهده مېرمن د اُحد، خيبر، مؤته او حنين په غزاګانو کې حاضره شوې وه چې په ډېرو لوړو ايماني او جهادي عملونو به يې لاس پورې کاوه او تر ټولو سربېره به يې د غازيانو ستر چوپړ دا کاوه چې د ټپيانو درملنه به يې کوله او د سنګر سختيو وهلو غازيانو ته به يې د څښاك اوبه ورکولې. (1)

# ﴿ جنتي مور ﴾

۱۲) ـ  د اسلام او ايمان د جوړه ايجابي حقيقتونو د منلو، خپرولو او ملاتړ په لاره کې د نبوي مهال مېرمنو هم کارنده ونډه اخيستې او د توحيد په لاره کې يې آن د خپل زړګي ټوټې نذرانه کړي.

د ستر صحابي سعد بن معاذ رضی الله عنه ګرانه مور (کبشه بنت رافع انصاريه) لور هغه مسلمانه او صبرناکه مېرمن وه چې د خپل زړګي ټوټه نازولی زوی عمرو بن معاذ رضی الله عنهما يې د الله تعالی په لاره کې شهيد او قرباني شو، کله چې د اُحد له غزا نه د مجاهدينو اعلی مشر د رحمت نبي محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم او نور غازيان راستانه شول، خلکو د الله د لارې غازيانو د هرکلي او ننداريې لپاره د هغوی د راتګ لارې څارلې، محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم هم پر خپل اس سپور و او سعد بن معاذ رضی الله عنه د اس واګي په لاس کې نيولې وې، د سعد بن معاذ رضی الله عنه مور چې کله رسول الله صلی الله عليه وسلم وليد، د هغه لور ته پر ځغاسته ورغله، سعد چې کله خپله مهربانه مورکۍ وليده، رسول الله   ته يې وويل : يا رسول الله  !

---

1 شخصية المرأة المسلمة ۸۳مخ

ketabton.com - The Digital Library



دا زما مور ده، رسول الله صلی الله علیه وسلم هغې ته هرکلی او ستړې مشې وويله او د هغې څنګ ته یې اس ودراوه، د سعد مور د رسول الله صلی الله علیه وسلم څنګ ته ورنږدې شوه، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم هغې ته د هغې د شهيد زوی عمرو بن معاذ د شهادت تعزیه (ډاډګېرنه) ورکړه، هغې ته او د هغې د کورنۍ ټولو شهيدانو ته یې د جنت زېری واوروه او هغوی لپاره یې دعا وکړه.[1]

## ﴿د نړۍ تر ټولو خوږو څېره﴾

هغه مهال چې الله تعالی مسلمانان د اسلام پر ستر نعمت ونازول او له دې سترې معنوي پانګې نارينه او مسلمانان ټول برخمن شو، اسلام د عدل او اعتدال پر بنسټ د نارينو په څېر ښځمنې هم په لوړو ارزښتونو سينګار کړي او د قراني او نبوي ريښتينو تاريخونو به زرينو پاڼو کې یې دوی له داسې سترو حقونو برخمنې کړي چې د نامسلمو اديانو پلويان یې لوړ مقام ته د رخې په ډول ګوته پر غاښ د حيرانۍ په سېلاب لاهو کېږي کله چې د اسلام او توحيد لمر له خپلو رنګينو پلوشو سره راوخوت او پر خپلې ډېرې پړقېدونکې رڼا یې د عربو دنيا روښانه کړه الله تعالی مسلمانه مېرمن هم کله د مور، کله د لور، کله د خور، کله د مېرمن، کله د عمې، کله د خالې او کله پر نورو بېلابېلو نومونو او صفتونو د بېلابېلو حقونو او ارزښتونو برخمنې کړې، د بېلګې په توګه د ښځمنو په دې انساني عالي هار کې مور تر نورو ټولو لومړی مقام لري که څه هم چې اسلام په غوره عملونو کې له مور

---

[1] شخصية المرأة المسلمة ٨٣مخ

ketabton.com - The Digital Library



**او پلار دواړو سره ښه سلوک او له هغوی سره ښېګڼې غبرګې يادوي، مګر مور د يو شمېر کړاوونو ګاللو له امله ځانګړنې لري اسلام يې هم د کړاوونو ګاللو له امله درناوی کوي او پر لوړ ناز يې نازوي.**

۱۳)ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضی الله عنه، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم، فَقَالَ: مَنْ أَحَقُّ النَّاسِ بِحُسْنِ صَحَابَتِي؟ قَالَ: أُمُّكَ، قَالَ: ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ: ثُمَّ أُمُّكَ، قَالَ: " ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ: ثُمَّ أُمُّكَ، قَالَ: ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ: ثُمَّ أَبُوكَ) [1]

**ژباړه: ابو هريرة رضی الله عنه د حديث راوي دی، وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم ته يو سړی راغی، ترېنه يې پوښتنه وکړه: په خلکو کې تر ټولو ډېر زما لپاره د نېک چانس لايق څوک دی؟**

**رسول الله صلی الله عليه وسلم ځواب ورکړ: ستا مور.**

**هغه وويل : بيا څوک؟**

**رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل : ستا مور.**

**هغه سړي وويل: بيا څوک؟**

**رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل : ستا مور.**

**هغه وويل : بيا څوک؟**

**رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: ستا پلار.**

# ﴿ د فطرت هېنداره ﴾

**اسلام هغه سپېڅلی دين دی چې د انسانيت د بشپړ جوړښت لپاره يې هره لاره چاره چې مؤمن بنده او مسلمانه مېرمن پرې د دنيا او اخرت ښايست ترلاسه کولی شي، بيان او ښودلې ده.**

**د بېلګې په توګه: محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم ويلي:**

---

[1] صحيح مسلم (4/ 1974)

ketabton.com - The Digital Library



۱۴)ـ (عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ رضى الله عنهما: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم: مَنْ أَتَى الْجُمُعَةَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ فَلْيَغْتَسِلْ) [1]

**ژباړه: عبدالله بن عمر رضى الله عنهما د حديث راوي دی، رسول الله صلى الله عليه وسلم څوك چې له نارينه او ښځمنو څخه د جمعې لمانځه لپاره ورځي، نو غسل دې وكړي.**

**ګران قدرو مسلمانو خويندو!**

**په دې هيله چې د ايمان له مانيزو جوړو سره د ځرګندې ښکلا، نظافت او جمال جوړې هم ملګري کړئ او د فطرت هېنداره مو پر داسې قيمتي، اسلامي او مذهبي ګاڼو سينګاره کړئ چې پر برکت يې جنت الفردوس کې مېلمنې شئ.**

# ﴿ د غاښونو نظافت او ښكلا ﴾

**مسلمانه مېرمن د بدن، جامو او نور نظافت په څنګ کې اسلام د غاښونو د پاکو ساتلو لور ته هڅولې ده او دې ته يې ځير کړې ده چې د خولې د خوشبويۍ خيال به ساتې، هغه پر دې مانا چې په خوله به داسې بدې خبرې، غيبت، تهمت پورې کول او کنځلې نه کوي چې له خولې څخه يې د دروغو او نورو ناوړو خبرو د بوی ورږمې خورې شي، همدا راز په ظاهري ډول به هڅه کوي چې پياز او اوږې کارول هومره زيات نه کړي چې د خولې له بد بويۍ څخه يې پرښتو ته هم زيان ورسېږي، کله چې مسلمانه مېرمن دې ټکو ته پام وکړي طبيعي ده چې د غاښونو د ښکلا خيال به هم ساتي او هم به يې پاک ساتي، هغه که پر مسواک، د غاښونو کريم يا نورو څيزونو سره وي.**

---

[1] صحيح ابن خزيمة (3/ 126)

ketabton.com - The Digital Library



**اُم المؤمنين عائشې رضی الله عنها به د خپلو غاښونو نظافت او ښکلا ډېر خيال ساته، صحيح بخاري کې راغلي، مجاهد د عائشې رضی الله عنها د خوريي عروة رضی الله عنه نه نقل کړي، هغه ويلي: مونږ به د عائشې رضی الله عنها په کوټه کې د هغې د غاښونو د مسواک کولو غږ اورېده.**

**١٥)ـ** (عَنْ عَطَاءً قَالَ:أَخْبَرَنِي عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ، قَالَ: كُنْتُ أَنَا وَابْنُ عُمَرَ مُسْتَنِدَيْنِ إِلَى حُجْرَةِ عَائِشَةَ رضى الله عنها، وَإِنَّا لَنَسْمَعُ ضَرْبَهَا بِالسِّوَاكِ تَسْتَنُّ ) [1]

**ژباړه: همدارنگه صحيح مسلم کې راغلي: عطاء د عروه بن الزبير رضی الله عنه نه نقل کړی، عروه رضی الله عنه وايي : ما او ابن عمر رضی الله عنهما ، د عائشې رضی الله عنها حجرې ته ډډه وهلې وه او مونږ د هغې د مسواک غږ اورېده چې پر خپلو غاښونو يې وهل.**

## ﴿ له خپلو وېښتانو سره مينه وکړئ! ﴾

**١٦)ـ د اسلام په سپېڅلي دين کې د انساني شخصيت کرامت او ارزښتونو ته په پام سره رسول الله صلی الله عليه وسلم د سيرت د ښکلا په څنگ کې د صورت ښکلا ته هم د پاملرنې امر کړی، که څه هم چې بدني او صوري ښکلا پناه کېدونکې ده، خو بيا هم رسول الله صلی الله عليه وسلم د نظافت شکلي او څرگندې ذوقي شرعي ښکلا ساتنې ته خپل امتيان ورښللي دي.**

**وېښتان هم د بدن په ظاهري ښکلا کې ځانگړی ارزښت لري، له همدې امله د ابو هريره رضی الله عنه په روايت شوي حديث کې راغلي، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي دي:**

(مَنْ كَانَ لَهُ شَعْرٌ فَلْيُكْرِمْهُ)[1]

---

[1] صحيح مسلم ٢/٩١٦

ketabton.com - The Digital Library



## ژباړه: څوک چې وېښتان لري، د خپلو وېښتانو درناوی دې وکړي.

په اسلامي ذوق کې د وېښتانو پاکوالی، ږمنځول، خوړېبويه کول، د شکل او څېرې ښکلا سمبالول، د وېښتانو درناوی بلل شوی دی.

رسول الله صلی الله عليه وسلم دا نه خوښوله، چې يو سړی دې د خپل سر يا ږيرې وېښتان داسې ګډوډ او بېر پرېږدي، چې ليدونکو ته د شکل او وېښتانو د ښکلا او نظافت په نه مراعاتولو د شيطان په څېر ښکاري.

رسول الله صلی الله عليه وسلم هم داسې کسان د ظاهري څېرې د ګډوډی له امله له شيطان سره ورته ښودلي، امام مالك رحمه الله په مؤطا کې له عطاء بن يسار نه په مرسل ډول حديث نقل کړی، ويلي يې دي:

((رسول الله صلی الله عليه وسلم په جومات کې ناست و، يو بېر سری او بېر ږيری سړی راننووت.

رسول الله صلی الله عليه وسلم په خپل مبارك لاس ورته داسې اشاره وکړه، لکه هغه ته چې د سر او ږيرې د وېښتانو د اصلاح او سمونې حکم کوي، رسول الله صلی الله عليه وسلم همداسې وکړل او هغه سړی بېرته ستون شو.

رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل:((ايا داسې يو څوک چې ږيره او د سر وېښتان يې بېر وي تر هغه بېر سري غوره نه دی چې څوک يې په ليدو ووايي، ته به وا شيطان دی.))

د رسول الله صلی الله عليه وسلم په تشبېه کې دا خبره څرګنده ده، چې د بېر سري سړي تشبېه يې له دې امله له شيطان سره کړې، چې د

---

[1] سنن أبي داود ۴/۷۶

ketabton.com - The Digital Library



اسلام په سپېڅلي دين کې شکلي، نظافت، جوړښت او ښکلا ته ډېره پاملرنه شوې ده.

رسول الله صلی الله علیه وسلم به تل په انساني څېره کې د ښکلا ساتنې او پالنې ته ډېره پاملرنه کوله، کله به يې چې داسې څوک وليد، چې وېښتان به يې ږمنځ کړي نه وو او خواره واره به وو، نو د هغه کس د څېرې ظاهري بڼې ته نه پاملرنه او کمی به يې نورو ته په داسې توګه ياداوه، چې نور ترې ځان وساتي او نوموړی شخص به يې په نبوي مرموزه ژبه پوهاوه.

د شهيد عبدالله ګران زوی جابر رضی الله عنه وايي:

((رسول الله صلی الله علیه وسلم زموږ څنګ ته راغی، يو ببر سری سړی يې وليد، چې وېښتان يې جرړپړ او خواره واره وو.

رسول الله صلی الله علیه وسلم وويل: دا سړی ږمنځ يا داسې څه نه مومي چې وېښتان پرې جوړ او ږمنځ کړي[1].))

څرنګه چې اسلام نارينه وو ته د سر د وېښتانو د ساتنې او پالنې يانې ږمنځونې حکم کړی، همداسې حکم يې ښځمنو ته هم کړی دی، چې د خپلو وېښتانو پالنه او سمبالنه وکړي، پاک او خوږبويه يې وساتي.

اسلام ښځمنو ته هم له ژوند سره په مينه کې د ښکلا باب پرانيستی، چې له دې لارې له خپل ژوند سره مينه وکړي، د سيرت او صورت غبرګې ښکلاوې وپالي او د زينت او سينګار پالنې په برخه کې د قرآن کريم او نبوي سنتو له ټاکليو پولو څخه هاخوا وانه وړي.

---

[1] مسند احمد. النسائی.

ketabton.com - The Digital Library



# ﴿علمي ګاڼه مو هېره نه شي﴾

۱۷)ـ (عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضی الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم: طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِيضَةٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ). [1]

**ژباړه: ابن ماجه د انس بن مالك رضی الله عنه په روایت د علم او اخلاقو د معلم حدیث نقل کړی، محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم ویلي: د علم طلب او لاسته راوړل په هر مسلمان (نارینه او مېرمن) فرض دي.**

**په ټولیز ډول د قران او سنت له لارښوونو راڅرګندېږي چې نارینه او ښځمنې د زده کړې په سرحد کې مساوي او برابرې دي، مګر دا خبره ښایي په پام کې ونیول شي چې نارینه او ښځمنې د هغو علمونو په زده کړه کې چې فرض عین یا فرض کفایي دي او دا اصل له هغه مهال نه منل شوی چې علم په اسلامي ټولنه کې راڅرګند شوی، پر همدې بنسټ مسلمانه مېرمن به تر هغې د علم له ځراغ نه رڼا لاسته راوړي چې تر کوم وخت پورې یې عقیدې، دین، شخصیت، حیا او عزت ته د فساد او فتنې ګواښ نه وي، بلکې د شرعي مقرراتو په رڼا کې د حجاب په جوړه کې د علم ستر نعمت ترلاسه کولی شي، په مېرمنو کې د دیني او مذهبي علم د زده کړې ولولې له پیل راهیسې ځپانده دي.**

**د اسلام په لومړنیو ورځو شپو کې د انصارو مېرمنو رسول کریم صلی الله علیه وسلم ته وویل: موږ لپاره له خپل لورې یوه ورځ وټاکئ چې د علم زده کړه پکې وکړو!**

---

[1] سنن ابن ماجه ۱/۸۱

ketabton.com - The Digital Library



ځکه نارينه پر موږ زورور شوي دي يانې ( تاسو له هغوی نه موږ ته نه اوزګارېږئ).

رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل: سمه ده! دا فلانکۍ ورځ ستاسو د راغونډېدلو لپاره شوه.

بيا به نو رسول الله صلی الله عليه وسلم هغوی ته په ټاکلي وخت ورتله وعظ او نصيحت به يې ورته کاوه او هم به يې د شرعي احکامو تعليم ورکاوه. (1)

## ﴿ غوره مېرمنې ﴾

د نبوي دور مېرمنو به د دين د شرعي مسئلو په زده کړې کې له پوښتنو څخه حيا او شرم نا کاوه، ځکه ديني پوښتنه د ناپوهۍ درملنه ده کله به چې مذهب پالونکو مېرمنو له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه د ديني مسئلو په اړه پوښتنه کوله، نو اُم المومنين عايشې رضی الله عنها به د وياړ په توګه ويل :......

۱۱۸)ـ (وَقَالَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا: «نِعْمَ النِّسَاءُ نِسَاءُ الأَنْصَارِ لَمْ يَمْنَعْهُنَّ الحَيَاءُ أَنْ يَتَفَقَّهْنَ فِي الدِّينِ) (2)

ژباړه: ډېرې ښې او نېکې مېرمنې د انصارو مېرمنې دي چې حيا په دين کې له علم او پوهې څخه منع نه کړې.

دا حديث د انصارو د ښځو مانيز ارزښت او شرافت څرګندوي چې د شرم او حيا له امله يې د دين، قران او سنت زده کړه پرې نه ښوده، بلکې د اسلامي حجاب په جوړه کې يې له ګران پيغمبر او د هغه له

---

[1] فتح الباري، کتاب العلم

[2] صحيح البخاري ۱/۳۸

ketabton.com - The Digital Library



**ګرانې عالمې مېرمنې عائشې رضی الله عنها څخه د دين پوهه ترلاسه کړه ، الله تعالی دې يې جنت الفردوس کې مېلمنې کړي.**

# ﴿د ښځو احتلام؟!﴾

**۱۹)ـ ام سلمه د ملحان لور د انس بن مالك رضی الله عنه ګرانه مور نبي عليه السلام ته راغله ويې ويل :**

(إِنَّ اللَّهَ لاَ يَسْتَحْيِي مِنَ الحَقِّ، فَهَلْ عَلَى المَرْأَةِ مِنْ غُسْلٍ إِذَا احْتَلَمَتْ؟ قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم: إِذَا رَأَتِ المَاءَ فَغَطَّتْ أُمُّ سَلَمَةَ، تَعْنِي وَجْهَهَا، وَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَوَتَحْتَلِمُ المَرْأَةُ؟ قَالَ: نَعَمْ، تَرِبَتْ يَمِينُكِ، فَبِمَ يُشْبِهُهَا وَلَدُهَا)[1]

**ژباړه: ای د الله رسوله! الله تعالی د حق له بيانولو څخه حيا نه کوي، ايا پر ښځې غسل شته، کله يې چې احتلام وشي يانې(شيطان يې تېرباسي)؟**

**رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل : هو؛ کله چې اوبه ووينې.**

**ام سلمة رضی الله عنها د حيا له امله مخ پټ کړ او ويې ويل :**

**ای د الله رسوله! د ښځې هم احتلام کېږي؟**

**رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل : هو؛ ښې لاس دې په خاورو کې ککړ شه (چې داسې نه وي) نو د څه له امله يې بچی د مور په څېر يا مور ته ورته وي.**

---

1 **صحيح البخاري ۱/۳۸**

ketabton.com - The Digital Library



# ﴿ فالگر ته مه ورځئ! ﴾

۲۰)ـ عَنْ صَفِيَّةَ رضى الله عنها ، عَنْ بَعْضِ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ: مَنْ أَتَى عَرَّافًا فَسَأَلَهُ عَنْ شَيْءٍ، لَمْ تُقْبَلْ لَهُ صَلَاةٌ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً. [1]

**ژباړه : صفيه رضى الله عنها د رسول الله صلى الله عليه وسلم د ځينو مېرمنو څخه روايت کړی ،رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي : څوک چې کاهن،نجومي يا فال ليدونکي ته ورشي او له هغه څخه د غيبو د څه شي په اړه پوښتنه وکړي د هغه څلوېښت ورځې يا شپې لمونځ نه قبليږي.**

**اسلام په هر اړخيز ډول بشپړ دين دی، الله ته غوره دين دی، الله تعالی د سپېڅليو انسانانو لپاره غوره کړی دی او دا قراني پيغام هم دی پر همدې بنسټ د غيبو خزانې الله سره دي او الله تعالی عالم الغيب دی، يو داسې انسان ته لاس ورغځول چې سيرت يې په شرک، کوډو او بدعتونو لړلی وي چې ته زما فال وگوره چې زما په نصيب کې يې ماته څه ليکلي، له اسلامي، قراني او نبوي لارښوونو خلاف عمل دی او دا کار ډېرې ناخبرې مېرمنې سرته رسوي، ښايي مسلمانې مېرمنې له داسې کړنو ځان وساتي چې الله تعالی د غضب او قهر وړ ونه گرځي.**

**همدارنگه ابو داود د ابو هريرة رضى الله عنه په روايت حديث نقل کړی، نبي صلى الله عليه وسلم ويلي:** (عَنْ عَبْدِ اللَّهِ رضى الله عنهما، قَالَ:

---

[1] صحيح مسلم ۴/۱۷۵۱

ketabton.com - The Digital Library



مَنْ أَتَيكَاهِنًا فَصَدَّقَهُ بِمَا يَقُولُ فَقَدْ بَرِئَ بِمَا أُنْزِلَ عَلَى مُحَمَّدٍ صلى الله عليه وسلم) (1)

ژباړه: څوک چې نجومي او کاهن ته ورشي، د هغه پر خبرو تصديق وکړي په تحقيق سره دی له هغه دين وحي او شرافت نه بېزاره شوی دی چې پر محمد صلی الله عليه وسلم نازل شوی.

## ﴿ فولادي ډال ﴾

مسلمانه مېرمن عقيدوي مکلفيت لري چې د الله عبادت سره غاړه غړې شي او د خپل نفس د پاکوالي په لټه کې شي، هغه مېرمن خورا نېکمرغه ده چې خپل روح د الله په عبادت صيقل کړي په ټوله مانا سره د الله د عبادت لور ته وړاندې شي، نفس يې پاک وي، زړه کې يې اطمنان شتون ولري، فکر يې د قران، الهي ذکر او تسبېحاتو پر پلوشو روښانه وي، وجدان يې د مخالفت او ګناه له خيرو پاک وي، د شيطان لپاره د جال او رسۍ په توګه ځان نه سپاري، د پياوړي ايمان په ځواک د شيطاني وسوسو څخه په امن کې وي، تل د الله نه بخښنه غواړي، له ګناهونو توبه وباسي او خپل ايمان د توحيد پر کلمه تازه ساتي دا چې د الله ياد متقيانو لپاره د شيطان د وسوسو په مقابل کې د فولادي ډال حيثيت لري، د همدې له امله رسول الله صلی الله عليه وسلم صحابه کرامو ته ويل :

۲۱)ـ (وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم: جَدِّدُوا إِيمَانَكُمْ، قِيلَ: يَا رَسُولَ اللهِ، وَكَيْفَ نُجَدِّدُ إِيمَانَنَا؟ قَالَ: أَكْثِرُوا مِنْ قَوْلِ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ)(2)

---

[1] مسند أبي داود الطيالسي ۱/۳۰۰

[2] مسند أحمد ط الرسالة (14/ 328)

ketabton.com - The Digital Library



**ژباړه: ايمان مو تازه کړئ! ورته وويل شو: ای د الله رسوله څنګه يې تازه کړو؟**

**رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل: لا اله الا الله ډېر وايئ!**

## ﴿ د مور چوپړ د کرامت شمله ده! ﴾

**۲۲)ـ امير المومنين عمر فاروق رضی الله عنه له يمن نه د راتلونکو جهادي قافلو څارنې لپاره په يوه لويه لار ولاړ و، پوښتنه به يې کوله: په تاسو کې أويس شته؟**

**تل به يې له هرې قافلې نه پوښتنه کوله، تر دې چې أويس يې وليد.**

**عمر فاروق رضی الله عنه ورته وويل : ته أويس يې؟**

**أويس وويل : هو؛**

**عمر فاروق رضی الله عنه وويل : له مراد نه بيا له قرن نه؟**

**أويس وويل : هو؛**

**عمر ترې وپوښتل : پر تا برګی مرض و چې اوس ترېنه جوړ شوی يې، او يوازې د درهم په اندازه ځای پاتې دی؟**

**أويس وويل : هو؛**

**عمر فاروق رضی الله عنه وويل : ستا مور وه؟**

**هغه وويل : هو؛**

**امير المومنين عمر فاروق رضی الله عنه وويل :**

سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم، يَقُولُ: «يَأْتِي عَلَيْكُمْ أُوَيْسُ بْنُ عَامِرٍ مَعَ أَمْدَادِ أَهْلِ الْيَمَنِ، مِنْ مُرَادٍ، ثُمَّ مِنْ قَرَنٍ، كَانَ بِهِ بَرَصٌ فَبَرَأَ مِنْهُ إِلَّا مَوْضِعَ دِرْهَمٍ، لَهُ وَالِدَةٌ هُوَ بِهَا بَرٌّ، لَوْ أَقْسَمَ عَلَى اللهِ لَأَبَرَّهُ، فَإِنِ اسْتَطَعْتَ أَنْ يَسْتَغْفِرَ لَكَ فَافْعَلْ»

ketabton.com - The Digital Library



فَاسْتَغْفِرْ لِي، فَاسْتَغْفَرَ لَهُ، فَقَالَ لَهُ عُمَرُ: أَيْنَ تُرِيدُ؟ قَالَ: الْكُوفَةَ، قَالَ: أَلَا أَكْتُبُ لَكَ إِلَى عَامِلِهَا؟ قَالَ: أَكُونُ فِي غَبْرَاءِ النَّاسِ أَحَبُّ إِلَيَّ.[1]

**ژباړه: له رسول الله صلى الله عليه وسلم نه مې اورېدلي و، ويل يې: پر تاسو به د يمن له جهادي قافلو سره أويس د عامر زوی، هغه چې له مراد او بيا له قرن څخه دی راځي، پر هغه به برگی مرض وي،له هغه به جوړ شوی وي، يوازې د يو درهم په اندازه ځای به ترې داغمن پاتې وي، د هغه به مور وي چې دې به له هغې سره احسان او ښه سلوك كوونكی وي، كه چېرې پر الله تعالی سوگند وكړي، سوگند به ورته پوره كړي، كه ستا طاقت وي چې ستا لپاره بخښنه وغواړي، نو دا كار وكړه، اوس نو زما لپاره الله تعالی نه بخښنه وغواړه؟!**

**(أويس قرني) عمر رضی الله عنهما لپاره بخښنه وغوښتله، عمر رضی الله عنه ورته وويل : اوس نو كوم لور ته د تللو اراده لرې؟**

**أويس وويل : د كوفې پر لور.**

**عمر رضی الله عنهما ورته وويل : د كوفې والي ته به خط دركړم چې مرسته درسره وكړي.**

**اوېس وويل: زما دا خوښېږي چې فقيرانو كې واوسېږم.**

**عمر رضی الله عنهما ورته وويل : له مور سره احسان او نېک سلوك أويس قرني هومره لوړ مقام ته ورساوه چې محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم به صحابه كرامو ته وصيت كاوه، كه أويس قرني مو وموندل دعا ترې وغواړئ.**

---

[1] صحيح مسلم ۴/۱۹۶۹

ketabton.com - The Digital Library



اسلام د پلار او مور دواړو حقونو ته ژمن دی، دا چې مور له بچیو سره له پیل نه تر پایه ډېر کړاونه ګالي، لومړی ماشوم د خپلې ګېډې په مرغلرینه ودانۍ کې ساتي بیا یې له زوکړې وروسته د خپلې غېږې په حرم کې په ناز او نزاکت پالي، خوږې شیدې ورکوي، د زړه وینه ورکوي، مینه ورکوي، هڅه کوي چې له خپل ټول شفقت او مهربانۍ نه یې برخمن کړي، همدا لامل دی چې قران او سنت د مسلمانو مېرمنو په لړ کې د مسلمانې مور حقونه هم په اسلامي پیاوړي تار کې داسې پېیلی چې منل او مور پرې نازول د هر مسلمان اسلامي او فطرتي دنده ده.

د ژوند په نړۍ کې مور هغه ستره پانګه ده چې د هغې چوپړ ستر همت ته اړتیا لري د مور چوپړ او د هغې د لورینو پر بنسټ له هغې نه مننه کول د ټولو انبیاؤ سنت دي، مور هغه ستره هستي ده چې انسان یې په هېڅ وخت کې حق نه شي پوره کولی که څه هم ټول عمر یې پر شا وګرځوي.

۲۳)ـ امام بخاري رحمه الله په الادب مفرد کې د عبدالله ابن عمر رضی الله عنهما د سترګو لیدلی حال او د هغه وینا نقل کړې، ابن عمر رضی الله عنهما یو یمنی سړی ولید چې د بیت الحرام نه یې طواف کاوه او مور یې په شا کړې وه، داسې یې ویل : زه مې د مور لپاره تابع کړای شوی اوښ یم دومره مې په شا وګرځوله چې هومره به یې زه هم نه یم ګرځولی.

ابن عمره! ستاسو په نظر اوس به مې د مور حق او بدله پوره کړې وي؟

ketabton.com - The Digital Library



**ابن عمر رضی الله عنه ځواب ورکړ: (وَلَا بِزُفْرَةٍ وَاحِدَةٍ)** [1]
**هغه ځواب ورکړ : تا تر اوسه د هغې د یو زګېروي حق نه دی ادا کړی.**

**یادونه: (زفرة) هغه دردمن تنفس ته ویل کېږي چې ښځینه یې د ولادت په وخت کې کوي.**

# ﴿ د مسلمانې مېرمن جنت او دوزخ؟! ﴾

**۲۴)ـ د اسلام په روښانه دین کې مسلمانې مېرمنې ته دا سپارښتنه هم شوې ده چې د ژوند په نړۍ کې د خپلې جوړې (خاوند) ټولو شرعي حقونو ته ژمنه واوسي، درناوی یې کوي او په ټوله مانا یې شرعي چوپړ ته ملا وتړي، اسلام په دې لړ کې مېرمنو ته د خاوندانو د حقونو تاکید او سپارښتنه داسې تعبیر کړې:**

لَوْ كُنْتُ آمُرُ أَحَدًا أَنْ يَسْجُدَ لِأَحَدٍ، لَأَمَرْتُ الْمَرْأَةَ أَنْ تَسْجُدَ لِزَوْجِهَا) [2]

**ژباړه: امام ترمذي رحمه الله حدیث نقل کړی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: که چېرې ما چا ته امر کولی چې یو کس ته دې سجده وکړي نو مېرمن ته به مې امر کړی وی چې خپل خاوند ته سجده وکړي.**

عَنْ عَائِشَةَ ر رضی الله عنها، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَيُّ النَّاسِ أَعْظَمُ حَقًّا عَلَى الْمَرْأَةِ؟ قَالَ: «زَوْجُهَا» قُلْتُ: فَأَيُّ النَّاسِ أَعْظَمُ حَقًّا عَلَى الرَّجُلِ؟ قَالَ: أُمُّهُ [3]

---

[1] **شخصية المراة المسلمة ۱۴۴ مخ**

[2] مسند أحمد ط الرسالة (32/ 145)

[3] المستدرك على الصحيحين للحاكم (4/ 167)

ketabton.com - The Digital Library



**عائشه رضی الله عنها وايي : له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه مې پوښتنه وکړه، پر مېرمن باندې د ستر حق والا څوک دی؟**
**رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل : د هغه خاوند.**
**ما وویل: پر سړي ستر حق څوک لري؟**
**رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل : د هغه مور.**

۲۵)ـ (عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، وَيَعْلَى قَالَ: حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ بُشَيْرِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ حُصَيْنِ بْنِ مِحْصَنٍ رضی الله عنهما ، أَنَّ عَمَّةً لَهُ أَتَتِ النَّبِيَّ صلی الله علیه وسلم فِي حَاجَةٍ، فَفَرَغَتْ مِنْ حَاجَتِهَا، فَقَالَ لَهَا: أَذَاتُ زَوْجٍ أَنْتِ؟ ، قَالَتْ: نَعَمْ، قَالَ: «فَأَيْنَ أَنْتِ مِنْهُ؟» – قَالَ يَعْلَى: فَكَيْفَ أَنْتِ لَهُ؟ قَالَتْ: مَا آلُوهُ إِلَّا مَا عَجَزْتُ عَنْهُ، قَالَ: انْظُرِي أَيْنَ أَنْتِ مِنْهُ فَإِنَّهُ جَنَّتُكِ وَنَارُكِ.[1]

**ژباړه: یحیی بن سعید او یعلی د حدیث راویان دی، دی وايي موږ ته یحیی حدیث بیان کړی، هغه د بشیر نه روایت کړی، هغه له حصین بن محصن رضی الله عنهما نه روایت کړی، حصین وايي زما عمه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د یو کار لپاره راغلې وه، رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې د ژوند په چارو کې څه اړتیا لرله، کله چې محمد مصطفی د هغه د اړتیا له پوره کولو وزګار شو، ورته یې وویل : خاوند لرې؟**
**هغې وویل :هو؛**
**رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل : ته د هغه لپاره په کومه درجه کې یې ؟**
**یعلی وايي: داسې یې ورته وویل :ته د هغه لپاره څنګه یې؟**

[1] مسند أحمد مخرجا (45/ 341)

ketabton.com - The Digital Library



هغه وويل : څومره مې چې وس وي د هغه چوپړ كوم او په حقونو كې يې كمی نه كوم.
رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: گوره چې ته د هغه په وړاندې چېرې يې، ځكه هغه ستا جنت او دوزخ دی.

## ﴿ جنتي مېرمن ﴾

په اسلامي او قراني غبرگو قوانينو كې د مسلمانې مېرمن لپاره په حقيقت كې مانيز زينت او سينگار دا ښودل شوی چې دا به پر اسلامي ښه او ايماني سيرت ښكلې او پوښلې وي د اسلام او ايمان هر اړخيز ركنونو ته به غاړه ايښودونكی وي او د ژوند هره شېبه به يې د قران او سنت د ځلانده لمر پر پلوشو روښانه وي، زړه كې به يې د ايماني نور څراغ روښانه وي او د بدن پر اندامونو به يې د شرعي حجاب پوښاك غوړېدلی وي او هر قدم به يې د اسلامي پولو دننه وي د شرعي واده لرونكې به وي، د ژوند هره نېكمرغي او د زړه سپېڅلتيا به په قران او سنت كې لټوي، پر همدې بنسټ كله چې مسلمانه مېرمن خپلو مذهبي لاربښوونو ته په عملي توگه ژمنه وي، الله تعالی به يې د جنت په گلبڼ كې پر خوښيو ونازوي.

امام احمد او طبراني رحمه الله حديث نقل كړی، محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم ويلي:
٢٦)ـ إِذَا صَلَّتِ الْمَرْأَةُ خَمْسَهَا، وَصَامَتْ شَهْرَهَا، وَحَفِظَتْ فَرْجَهَا، وَأَطَاعَتْ زَوْجَهَا قِيلَ لَهَا: ادْخُلِي الْجَنَّةَ مِنْ أَيِّ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ شِئْتِ [1]

[1] مسند أحمد مخرجا (3/ 199)

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه : کله چې مسلمانه مېرمن پنځه لمونځونه ادا کړي او د رمضان د میاشتې روژې ونیسي او د خپل خاوند اطاعت او خبره مني او د خپل عورت ساتنه کوي د قیامت په ورځ به ورته وویلی شي له کومې دروازې دې چې زړه غواړي جنت ته ننوځه.

# ﴿ د جنت زېری ﴾

۲۷)ـ وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رضى الله عنها قَالَ, قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم: أَيُّمَا امْرَأَةٍ مَاتَتْ وَزَوْجُهَا عَنْهَا رَاضٍ دَخَلَتِ الْجَنَّةَ) [1]

ژباړه: ام سلمة رضى الله عنها حدیث روایت کړی، رسول الله صلى الله علیه وسلم ویلي: کومه مېرمن چې په داسې حال کې مړه شي چې خاوند ترې راضي او خوشحاله وي، جنت ته به ننوځي.

پورتني حدیث کې رسول الله صلى الله علیه وسلم د هغې مسلمانې مېرمن یادونه کړې چې د ژوند په اوږدو کې یې له خپل خاوند سره اسلامي او اخلاقي ژوند ترسره کړی وي، د هغه د حقونو درناوی یې کړی وي، تل یې د هغه شرعي غوښتنو ته مثبت ځواب ورکړی وي او بیا په داسې حال کې خپل مسلمان خاوند څخه په کفن کې مخ کړي چې خاوند ترې په بشپړ ډول راضي او خوښ وي، نو د رسول الله صلى الله علیه وسلم له لورې داسې مېرمن ته د جنت زېری ورکړل شوی.

[1] العلل الکبیر للترمذي/ ترتیب علل الترمذي الکبیر ۳۷۴ مخ

ketabton.com - The Digital Library



# ﴿رانجه به پورې نه کړم!﴾

۲۸)ـ وَعَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضی الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صلی الله علیه وسلم قَالَ: "أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِنِسَائِكُمْ فِي الْجَنَّةِ؟ " قُلْنَا: بَلَى يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ: " كُلُّ وَدُودٍ وَلُودٍ إِذَا غَضِبَتْ أَوْ أُسِيءَ إِلَيْهَا أَوْ غَضِبَ زَوْجُهَا قَالَتْ: هَذِهِ يَدِي فِي يَدِكَ لَا أَكْتَحِلُ بِغُمْضٍ حَتَّى تَرْضَى) [1]

**ژباړه: انس بن مالک رضی الله عنه د حدیث راوي دی، محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم ویلي: ایا پر جنتي مېرمنو خبر در نه کړم؟**

**صحابه کرام وايي، موږ وویل : هو؛ ای د الله جل جلا له رسوله خبر مو کړه!**

**رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل : هره زېږوونکې مینه ناکه، مېرمن کله چې په غوسه شي، یا له هغې سره څه بد وکړای شي، یا یې خاوند په غوسه شي ، هغه وايي : دا زما لاس ستا په لاس کې دی، تر هغې به پر سترګو رانجه پورې نه کړم، تر دې چې ته راضي نه شې.**

**یاد شوي حدیث کې محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم د هغې مینه ناکې نېکې مېرمې انځور کښلی، چې د خپل خاوند پر وړاندې د اسلامي اخلاقو په رڼا کې چال چلند کوي د اسلامي امت د زیاتېدو لپاره زامن زېږوي، له خپل خاوند سره مینه کوي، آن تر دې چې د خاوند د رضا او خوښۍ د لاسته راوړنې لپاره په سترګو د رانجو پورې کولو نه انکار کوي.**

---

[1] مجمع الزوائد ومنبع الفوائد ۴/ ۳۱۲

ketabton.com - The Digital Library



# ﴿پر مسلمانې مېرمن پرښتې لعنت وايي! ﴾

۲۹)ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه وسلم: إِذَا دَعَا الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ إِلَى فِرَاشِهِ، فَلَمْ تَأْتِهِ، فَبَاتَ غَضْبَانَ عَلَيْهَا، لَعَنَتْهَا الْمَلَائِكَةُ حَتَّى تُصْبِحَ) [1]

**په صحيحينو کې د ابو هريرة رضى الله عنه په روايت حديث کې راغلي، رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: کله چې سړى خپله مېرمن بستر (پالنګ) ته راوبلي او مېرمن د هغې څنګ ته ورنشي، خاوند په داسې حال کې شپه تېره کړي چې پر خپله مېرمن په غضب او غوسه وي نو ملائک تر سبا پورې پر دغې مېرمن لعنت وايي.**

**دا چې په اسلام کې واده ددې لپاره ټاکل شوى چې د شرعي واده په وسيله سړى او ښځه دواړه له ناوړو کارونو وساتل شي نو پر مسلمانې مېرمن لازم دي چې کله يې خاوند خپل څنګ ته وربولي دا بايد د هغه غوښتنه ومني، په داسې حال کې چې کوم شرعي بنديز شتون ونه لري، لکه حيض، نفاس و غيره او که چېرې مسلمانه مېرمن د خاوند بلنې ته ځواب ونه وايي سره له دې چې ښځې ته کوم شرعي عذر موجود نه وي نو بيا ښځه تر سبا پورې د ملائکو په لعنت کې ده او پر ځاى ددې چې په صالحه او مسلمانه مېرمن ياده شي د ملائکو په منځ کې پر لعنتي مېرمن يادېږي.**

---

[1] صحيح مسلم۲ /۱۰٦۰

ketabton.com - The Digital Library



# ﴿ پام! چې روژه نه شې! ﴾

د اسلام سپېڅلي دين د مسلمانو ښځمنو لپاره د ژوند په هره برخه کې قوانين ټاکلي چې په وسيله يې د دوی او د دوی د خاوندانو تر منځ د د مينې او هم غږی فضا جوړيږي.

۳۰)ـ (لاَ يَحِلُّ لِلْمَرْأَةِ أَنْ تَصُومَ وَزَوْجُهَا شَاهِدٌ إِلَّا بِإِذْنِهِ، وَلاَ تَأْذَنَ فِي بَيْتِهِ إِلَّا بِإِذْنِهِ، وَمَا أَنْفَقَتْ مِنْ نَفَقَةٍ عَنْ غَيْرِ أَمْرِهِ فَإِنَّهُ يُؤَدَّى إِلَيْهِ شَطْرُهُ)[1]

ژباړه : امام بخاري رحمه الله حديث راوړی، رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: هېڅ يوې مېرمنې ته روا نه دي چې مېړه يې په کور کې حاضر وي او دا د هغه له اجازې پرته (نفلي) روژه ونيسي، همدارنگه دا ورته روا نه دي چې د خاوند کور ته د هغه له اجازې پرته څوک ننباسي او که د خاوند د امر پرته کوم مال صدقه کوي نو خاوند ته يې نيم اجر رسيږي.

دې ته ورته نور احاديث هم شته چې ددې حديث د مسائلو تاييد ترې ترلاسه کېږي، اسلامي عالمان وايي: د رسول الله صلی الله عليه وسلم له دې او ځينو نورو حديثونو دا څرگنديږي چې ښځه به د رمضان د فرضي روژو پرته نورې نفلي روژې د خاوند بې اجازې نه نيسي.

د خاوند کور ته به نامحرمو کسانو ته د ننوتلو اجازه نه ورکوي د خاوند بې اجازې به د هغه له مال څخه صدقه او خيرات نه ورکوي، که چېرې د هغه د اجازې پرته څه مالي صدقه ورکړي نو بيا هم د صدقې نيم اجر خاوند ته رسيږي، که چېرې مېرمن په دې پوهېږي چې خاوند يې له

---

[1] صحيح البخاري ۷/ ۳۰

ketabton.com - The Digital Library



**مال څخه په صدقو ورکولو ناراضه کېږي بيا نو ښځې ته پکار ده چې صدقه ورنه کړي، ځکه د ثواب پر ځای ځانته عذاب او پيټي جوړوي.**

**مگر کله چې خاوند په کور کې نه وي مېرمن په دې پوهېږي که زه د خاوند له مال نه صدقه او خيرات ورکړم او هغه خبر شي نو خوشحاليږي بيا روا ده او که پوهېږي چې هغه ناراضه کېږي نو بيا مېرمن ته نه دي روا چې له مال نه يې صدقه ورکړي.**

**يوه خبره د يادولو وړ ده، که چېرې خاوند بخيل وي پر خپلې مېرمن او بچيو هم بخل کوي د هغوی د اړتياو برابر مال هغوی ته نه ورکوي بيا نو د رسول الله صلی الله عليه وسلم له حديثو نه دا مسئله موږ ته روښانه ده چې د خاوند د پوهې او خبرېدو پرته مېرمن ته روا دي چې په سمه طريقه دومره مال يا پيسې د خاوند له مال او شتمنی نه واخلي چې د دوی د ژوند اړتياوې پرې پوره شي.**

# ﴿ د خاوند په مال کې دومره واک لري! ﴾

**۳۱)ـ** (عَنْ عَائِشَةَ رضى الله عنها، أَنَّ هِنْدَ بِنْتَ عُتْبَةَ قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ أَبَا سُفْيَانَ رَجُلٌ شَحِيحٌ وَلَيْسَ يُعْطِينِي مَا يَكْفِينِي وَوَلَدِي، إِلَّا مَا أَخَذْتُ مِنْهُ وَهُوَ لاَ يَعْلَمُ، فَقَالَ: «خُذِي مَا يَكْفِيكِ وَوَلَدَكِ، بِالْمَعْرُوفِ ) [1]

**ژباړه: هند بنت عتبه رضی الله عنها د ابو سفيان مېرمن، رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغله، ويې ويل :**

**ای د الله رسوله! ابو سفيان ډېر شوم (بخيل) سړی دی، دومره څه نه راکوي چې ما لپاره او هم زما بچيو لپاره بسنه وکړي، مگر هغه چې زه يې د هغه له مال نه په پټه واخلم.**

[1] صحيح البخاري ۷/ ٦٥

ketabton.com - The Digital Library



**رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل : په سمه او شرعي طريقه ترېنه دومره اخله چې تا او ستا بچيو لپاره بسنه کوي.**

## ﴿د احرام جوړه!﴾

**اُم المومنين عائشه رضی الله عنها د مسلمانو مېرمنو لپاره له نبوي ژوند څخه الهام اخيستنې لپاره ستره مدرسه ده، هغه که د عباداتو، اخلاقو او که د ژوند اړوند نورې چارې وي، عائشې رضی الله عنها به د ژوند په هره شېبه کې د رسول الله هماغسې ملګرتيا او ملاتړ کاوه په کومه ملګرتيا به چې ترېنه الله تعالی راضي کېده او د جبريل عليه السلام په وسيله به يې ورته سلام رالېږه.**

## ﴿پر خاوند دې خوشبويي وشينده!﴾

**۳۲)ـ** (عَنْ عَائِشَةَ رضى الله عنها، قَالَتْ: طَيَّبْتُ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم لِحُرْمِهِ حِينَ أَحْرَمَ، وَلِحِلِّهِ قَبْلَ أَنْ يَطُوفَ بِالْبَيْتِ ) [1]

**ژباړه : عائشه رضی الله عنها وايي : هغه مهال مې په رسول الله صلی الله عليه وسلم خوشبويي لګولې وه، کله يې چې ځان د احرام په جوړه کې پوښل او بيا مې هغه مهال خوشبويي پرې لګولې وه کله چې له احرام نه حلال شو او لا طواف يې نه و کړی.**[2]

(عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: سَأَلْتُ عَائِشَةَ رضى الله عنها: بِأَيِّ شَيْءٍ طَيَّبْتِ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم عِنْدَ حُرْمِهِ؟ قَالَتْ: بِأَطْيَبِ الطِّيبِ)[3]

---

[1] صحيح مسلم ۲/۸۴۶

[3] صحيح مسلم ۲/۸۴۷

ketabton.com - The Digital Library



**ژباړه: عروه له خپل پلار نه روايت کړی، وايي: له عائشې رضی الله عنها نه مې پوښتنه وکړه، رسول الله صلی الله علیه وسلم دې د احرام پر مهال په کومه خوشبو خوشبويه کړی و؟**
**هغې وويل : په ډېرې ښې او ښايسته خوشبويي سره.**

**د نبوي څراغ په روښانه پلوشو کې مسلمانو مېرمنو ته هومره ټکی په ټکی د ژوند کتاب ترجمه او انځور شوی چې له هرې بېلگې يې مسلمان نارينه او مسلمانې مېرمن ته دا څرگندېږي چې په رينښتيني ډول محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم د رحمت او مهربانۍ نبي و، په همدې لړ کې د عائشې رضی الله عنها له مينه ناک ژوند نه مسلمانه مېرمن دا زده کړه کولی شي چې د اړتيا په مهال مېرمن د خپل خاوندد سر وېښتان هم شانه کولی شي او دا له هغه سره د مينې ستر ثبوت دی.**

# ﴿ مېرمن خپل خاوند ته سر ږمنځولی شي؟! ﴾

۳۳)ـ عَنْ عَائِشَةَ رضی الله عنها، قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ صلی الله علیه وسلم، إِذَا اعْتَكَفَ، يُدْنِي إِلَيَّ رَأْسَهُ فَأُرَجِّلُهُ، وَكَانَ لَا يَدْخُلُ الْبَيْتَ إِلَّا لِحَاجَةِ الْإِنْسَانِ ) [1]

**ژباړه : عائشه رضی الله عنها وايي: نبي صلی الله علیه وسلم به چې کله اعتکاف کاوه، سر به يې ماته نږدې کاوه، ما به ورته ږمنځاوه او رسول الله به د انساني حاجت پرته کور ته نه ننوته.**

۳۴)ـ (عَنْ عَائِشَةَ رضی الله عنها قَالَتْ:كُنْتُ أَغْسِلُ رَأْسَ رَسُولِ اللهِ صلی الله علیه وسلم وَأَنَا حَائِضٌ)[1]

---

[1] **صحيح مسلم ۱/۲۴۴**

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه : عائشې رضی الله عنها ويلي : ما به د رسول الله صلی الله علیه وسلم سر وینځل اوزه به حائضه یانې پر (میاشتینۍ ناروغۍ) کې وم، عائشې رضی الله عنها په عملي توګه مسلمانو مېرمنو ته د خپل ژوند انځور کښلی، تر هغې چې مسلمانې مېرمنې په ټوله مانا له خپلو خاوندانو سره د شرعي مینې جونګړه ودانه او روښانه کړي.

## ﴿ مسلمانو مېرمنو! صدقې ورکړئ! ﴾

۳۵)ـ (عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رضی الله عنه، قَالَ، قَالَ: رَسُولُ اللَّهِ صلی الله علیه وسلم: يَا مَعْشَرَ النِّسَاءِ تَصَدَّقْنَ فَإِنِّي أُرِيتُكُنَّ أَكْثَرَ أَهْلِ النَّارِ» فَقُلْنَ: وَبِمَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: «تُكْثِرْنَ اللَّعْنَ، وَتَكْفُرْنَ العَشِيرَ [2]

ژباړه : صحيح حديث كې راغلي، ابو سعيد الخدري رضی الله عنه د حديث راوي دی نبي صلی الله علیه وسلم ويلي :

ای د ښځمنو ډلې!

صدقې ورکړئ، ما تاسې ډېرې په دوزخ کې ولیدئ.

هغو ښځو وویل : ای د الله رسوله! ولې؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم وويل : تاسو لعنت ډېر کاروئ.

د اسلام فطرتي او نړیوال دین کې مسلمانو مېرمنو ته تل د ژوند په بهیر کې د داسې کړو وړو امر شوی چې له امله يې دوی د دزوخ له سوزنده کور نه د ګلورين جنت په لور رابلل کېږي اسلامي فطرت دوی ځير کوي چې صدقې او خيراتونه ورکړئ ځانونه د دزوخ له نړۍ نه را

---

[1] صحيح مسلم ۱/۲۴۴

[2] صحيح البخاري ۱/٦٨

ketabton.com - The Digital Library



بهر کړئ، خپلې ژبې او زړونه مو خپله ولکه کې راولئ او له بې ځايه ويناګانو او کړنو منع شئ.
او د بخاري په روايت کې راغلي: او د خپلو خاوندانو ناشکري کوي او هم د احسان منندويي نه کوي، که چېرې د دوی له يوې سره ټول عمر احسان او نيکي وکړې، بيا له تا څخه څه (کمی يا بدي) ووينې، وايي : ما له تا څخه هېڅکله خير نه دی ليدلی.[1]

د مسند احمد په روايت کې راغلي: يو سړي ووېل : ای د الله رسوله ! ايا دوی زموږ مېندې، خويندې او مېرمنې نه دي؟
رسول الله صلی الله عليه وسلم ووېل : هو؛ دي مګر کله چې دوی ته څه ورکوې، شکريه او منته نه کوي او کله چې پر څه مصيبت يا غم اخته شي صبر نه کوي.[2]

له يادو شويو نبوي لارښوونو دا زده کېږي چې مسلمانې مېرمنې دې خپلې ژبې په ښو او خوږو خبرو روږدې کړي، د منندويي اسلامي فرهنګ دې زده کړي او هم دې يې په ورځني ژوند کې پلی او عملي کړي، پر الهي پرېکړو او د تقدير پر خزانه دې ايمان ولري، په هر اړخيز صبر دې خپل زړه، روح، او ځان سينګار کړي، تر دې چې له يوې لورې د مسلمانو مېرمنو په جنتی ليکلړ کې خپل نومونه وليکي او له بلې لورې د دوزخ د استوګنو او نښتونکو له ليکلړه ځانونه وباسي.

---

1 فتح الباري
2 رواه احمد

ketabton.com - The Digital Library



# ﴿راز وساته! ﴾

راز ساتل د ښکلو اخلاقو د لړۍ داسې کړۍ ده، چې انسان ته (نر وي که ښځه) د امانت ساتنې روحيه او اخلاقي ځلا ورکوي، اسلامي عالمان وايي: د راز ساتل د شخصيت پر پوخوالي دلالت کوي، له راز ساتلو د انساني خلقت او فطرت متانت څرګندېږي.او همدا راز د غوره عقل استازيتوب کوي.

د اسلامي امت سرلارو اتلو صحابه کرامو رضی الله عنهم، تابعينو او تبع تابعينو د راز ساتنې فضليت او ارزښت درک کړی و او دې ارزښتناک ايماني صفت ته يې زياته پاملرنه کوله.

د رسول الله صلی الله عليه وسلم د معراج د معجزې تصديقوونکي د هجرت د سفر ملګری ابوبکرصديق، عمر فاروق، عثمان ذوالنورين او علي المرتضی رضی الله عنهم او داسې نور د راز ساتنې د قافلې سرلاري وو.

د ابوبکرصديق رضی الله عنه او عثمان بن عفان رضی الله عنه د موقف په نسبت سره عمر رضی الله عنه ته د راز ساتنې برخه کې روښانه دی؟

٣٦)ـ امام بخاري رحمه الله د عبدالله بن عمر رضی الله عنهما په روايت نقل کړی: عمر رضی الله عنهما وايي، هغه مهال مې چې حفصه رضی الله عنها لور کونډه شوه، نو له عثمان بن عفان رضی الله عنه سره مې ليدل وشو، له حفصې رضی الله عنها سره د واده وړانديز مې ورته وکړ. عثمان بن عفان رضی الله عنه ته مې وويل: که دې خوښه وي، حفصه رضی الله عنه به درته نکاح کړم.

ketabton.com - The Digital Library



**هغه وويل: زه به فکر وکړم.**

**څو ورځې او شپې مې ځنډ وکړ، بيا راسره عثمان بن عفان رضی الله عنه مخامخ شو، ويې ويل: ماته خو دا ښه ښکاره شوه، چې په دې ورځو-شپو کې له هېچا سره واده ونه کړم.**

**له ابوبکرصديق رضی الله عنه سره مخامخ شوم، هغه ته مې وويل: که دې خوښه وي، حفصه رضی الله عنها به په نکاح درکړم؟**

**ابوبکرصديق رضی الله عنه غلی شو او هېڅ يې ونه ويل، پر هغه له عثمان رضی الله عنه نه هم زيات په غوسه وم.**

**څو ورځې وروسته نبي صلی الله عليه وسلم حفصې رضی الله عنها سره د واده کولو پيغام راولېږه، د رسول الله صلی الله عليه وسلم پيغام مې قبول کړ او حفصه رضی الله عنها مې هغه مبارک صلی الله عليه وسلم ته په نکاح ورکړه.**

**بيا ابوبکرصديق رضی الله عنه سره مخامخ شوم، هغه وويل: کېدای شول، هغه مهال تاسو پر ما غوسه شوي وئ، له حفصې رضی الله عنها سره د واده کولو د وړانديز په چپ کېدو راته په غوسه شوې او هغه وخت ما په ځواب کې هېڅ ونه ويل.**

**عمر رضی الله عنه وايي: هو ډېر درته غوسه شوی وم.**

**ابوبکرصديق رضی الله عنه وويل: ما ځکه تاسو ته ځواب درنه کړ او څه مې ونه ويل، چې زه له څه مودې راهيسې خبر وم، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم له حفصې رضی الله عنها سره د واده کولو خبره ياده کړې وه او زه داسې نه وم، چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم راز دې افشاء کړم، که چېرې رسول الله صلی الله عليه وسلم تېر شوی وای، نو ما به هرومرو حفصه رضی الله عنها قبوله کړې وای.)**[1]

---

[1] فتح الباري، شخصية المراء المسلمة، مخ: ۳۸۹

ketabton.com - The Digital Library



۳۷)ـ (عَنْ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ سَعْدٍ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ رضى الله عنه، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم: إِنَّ مِنْ أَشَرِّ النَّاسِ عِنْدَ اللهِ مَنْزِلَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ، الرَّجُلَ يُفْضِي إِلَى امْرَأَتِهِ، وَتُفْضِي إِلَيْهِ، ثُمَّ يَنْشُرُ سِرَّهَا) [1]

ژباړه: عبدالرحمن بن سعد وايي: له ابو سعيد الخدري رضى الله عنه څخه مې اورېدلي، ويل يې: رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: (د الله تعالى په وړاندې د مرتبې له پلوه د قيامت په ورځ بدترين هغه سړی دی، چې خپلې مېرمنې ته نږدې کېږي او هغه ده ته نږدې کېږي او بيا د هغې راز رسوا کوي.)

عائشه رضى الله عنها وايي: (موږ ټولې بيبيانې له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره ناستې وو، چې په همدې شېبو کې فاطمة الزهرا رضى الله عنها غلې، غلې مجلس ته راغله، د رسول الله صلى الله عليه وسلم او د هغې د رفتار ترمنځ څه توپير نه و، رسول الله صلى الله عليه وسلم چې کله هغه وليده، هرکلی يې ورته ووايه او ورته وويل: لورې ستړې مه شې!

بيا يې خپل ښي يا کيڼ څنګ کې کېنوله، څه پټه خبره يې ورته وکړه. فاطمة الزهرا رضى الله عنها ډېر زيات وژړل، کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغې فرياد او خپګان وليد، بيا يې ورته دويم ځلې څه پټه خبره وکړه، فاطمة الزهرا رضى الله عنه په خندا شوه.

عائشة رضى الله عنها وايي: ما ورته وويل، ته رسول الله صلى الله عليه وسلم له خپلو ټولو مېرمنو څخه په راز ساتنې ځانګړې کړې، بيا هم ته ژاړې.

---

[1] صحيح مسلم ۲/۱۰۶۰

ketabton.com - The Digital Library



کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم پاڅېد او لاړ، ما ترې وپوښتل: رسول الله صلی الله علیه وسلم درته څه وویل؟
هغې وویل: زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم راز نه رسوا کوم.
کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات شو، څه وخت وروسته مې بیا فاطمې رضی الله عنها ته وویل: زه درته پر خپل هغه حق قسم درکوم، چې پر تا یې لرم، ووایه، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم درته څه راز ویلی و؟
فاطمې رضی الله عنها وویل: هو! اوس یې درته وایم، په لومړي ځل یې راته وویل، چې مخکې به جبریل علیه السلام راته په کال کې یو یا دوه ځل د قرآن کریم دور کاوه او دا ځل یې راته دوه ځلې وکړ، داسې معلومېږي، چې زما د مرگ نېټه رانېږدې شوې، نو ته له الله تعالی څخه وېره لره او صبر کوه.
په دې خبره ما وژړل، څنگه چې هغه وخت تا زما ژړا ولیده، کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم زما خپگان ولید، بیا یې راته پټ وویل: ایا ته په دې خوشحاله نه یې، چې په جنت کې به د مومنانو د مېرمنو سرداره یې یا د دې امت د مېرمنو سرداره به یې.
نو په دې خبره خوشحاله شوم او ومې خندل، لکه دې چې لیدل.)[1]

---

[1] صحیح مسلم

ketabton.com - The Digital Library



# ﴿لومړنۍ مسلمانه مېرمن﴾

۳۸)ـ (عَنْ أَبِي زُرْعَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ رضى الله عنه، قَالَ: أَتَى جِبْرِيلُ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ هَذِهِ خَدِيجَةُ قَدْ أَتَتْكَ مَعَهَا إِنَاءٌ فِيهِ إِدَامٌ أَوْ طَعَامٌ أَوْ شَرَابٌ، فَإِذَا هِيَ أَتَتْكَ، فَاقْرَأْ عَلَيْهَا السَّلَامَ مِنْ رَبِّهَا عَزَّ وَجَلَّ، وَمِنِّي، وَبَشِّرْهَا بِبَيْتٍ فِي الْجَنَّةِ مِنْ قَصَبٍ، لَا صَخَبَ فِيهِ وَلَا نَصَبَ) [1]

**ژباړه: ابو زُرعه وايي، له ابو هريرة رضى الله عنه څخه مې اورېدلي، ويل يې: جبرئل عليه السلام نبي صلى الله عليه وسلم ته راغی، ورته يې وويل : ای د الله تعالی رسوله!**

**خديجه رضى الله عنها ستا څنګ ته را روانه ده د هغه سره په لوښي کې څه اېنګولی او خواړه هم دي کله چې ستا څنګ ته راورسېده ، د کائناتو د پالونکي سلام او هم پرې زما سلام ووايه او جنت کې له داسې مرغلرو پر جوړ شوي کور زېری ورکړه چې منځونه يې تش وي او هغه کور کې به هېڅ شور ګډوډ غړونه او ستړيا نه وي.**

# ﴿ مسلمانه مېرمن يو پر بل تهجد کوي ﴾

۳۹)ـ (عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم: رَحِمَ اللَّهُ رَجُلًا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ فَصَلَّى وَأَيْقَظَ امْرَأَتَهُ، فَإِنْ أَبَتْ نَضَحَ فِي وَجْهِهَا الْمَاءَ، رَحِمَ اللَّهُ امْرَأَةً قَامَتْ مِنَ اللَّيْلِ فَصَلَّتْ وَأَيْقَظَتْ زَوْجَهَا فَإِنْ أَبَى نَضَحَتْ فِي وَجْهِهِ الْمَاءَ) [2]

---

[1] صحيح مسلم ۴/۱۸۸۷

[2] المستدرك على الصحيحين للحاكم ۱/۴۵۳

ketabton.com - The Digital Library



**ژباړه: ابو هريرة رضی الله عنه د حديث راوي دی، محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم ويلي: الله تعالی دې پر هغه سړي رحم وکړي چې (قيام اليل) تهجد لمونځ لپاره پاڅېږي، لمونځ وکړي خپله مېرمن هم راويښه کړي، که انکار وکړي پر مخ يې اوبه وروشيندي او الله تعالی دې پر هغې مېرمن رحم وکړي چې پاڅېږي لمونځ وکړي او خپل خاوند هم راويښ کړي او لمونځ وکړي که خاوند يې له پاڅېدلو انکار وکړي، دا يې پر مخ اوبه وروشيندي.**

## ﴿ سينګار ﴾

**د اسلام په سپېڅلي دين کې د مسلمانې مېرمن لپاره د زينت او سينګار موضوع هم له پامه نه ده غورځول شوې، د قران کريم او نبوي احاديثو له جوړې نه د مسلمانو مېرمنو سينګار روښانه دی، هغه که د پوښاک په برخه کې وي او که د زېوراتو د ګاڼې په اړه وي يا په نورو بېلابېلو روا ځيزونو د خپل ځان او د بدن د نورو غړيو سينګارول او ښايسته کول وي په همدې لړ کې نکريزي هم يو داسې ښکلی او رنګين سينګار دی چې ګټې يې زياتې او تاوان يې کم دی، اسلام مسلمانې مېرمنې پر دې ګمارلي چې د خپلو خاوندانو لپاره په شرعي بېلابېلو طريقو ځانونه ډولي او سينګار کړي او د خپل هر اړخيز جمال او ښکلا پر مټ د هغوی د زړونو په حرم کې واوسېږي.**

## ﴿ د جنتي خوشبويانو سرداره ﴾

۴۰)ـ (وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو رضی الله عنهما أَنَّ النَّبِيَّ صلی الله عليه وسلم قَالَ: (سَيِّدُ رَيْحَانِ أَهْلِ الْجَنَّةِ الْحِنَّاءُ) [1]

[1] مجمع الزوائد ومنبع الفوائد (5/ 157)/ سلسلة الاحاديث الصحيحة۲۰/۱۴

ketabton.com - The Digital Library



**ژباړه: عبدالله ابن عمر بن العاص رضی الله عنهما د حدیث راوي دی، محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم ویلي: د جنتي خوشبویانو سرداره نکریزه ده.**

## ﴿ درې شپې که ځلور میاشتې او لس ورځې؟! ﴾

۴۱)ـ عَنْ حُمَيْدِ بْنِ نَافِعٍ، قَالَ: سَمِعْتُ زَيْنَبَ بِنْتَ أُمِّ سَلَمَةَ، قَالَتْ: تُوُفِّيَ حَمِيمٌ لِأُمِّ حَبِيبَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا ، فَدَعَتْ بِصُفْرَةٍ، فَمَسَحَتْهُ بِذِرَاعَيْهَا، وَقَالَتْ: إِنَّمَا أَصْنَعُ هَذَا لِأَنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَقُولُ: «لَا يَحِلُّ لِامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أَنْ تُحِدَّ فَوْقَ ثَلَاثٍ، إِلَّا عَلَى زَوْجٍ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا ) [1]

**ژباړه: حمید بن نافع وايي، زينب بنت ام سلمه نه مې اورېدلي، هغې ویل د اُم حبیبې رضی الله عنها ورور مړ شوی و، نو اُم حبیبې رضی الله عنها څه خوشبويي راوغوښته، او هغه يې پر خپلو لېچو پورې کړه، بیا يې وويل: دا کار ځکه کوم چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه مې اورېدلي و چې ویل يې: هېڅ يوې مېرمنې ته چې پر الله تعالی او د اخرت په ورځ ایمان لري روا نه دي چې له درې ورځو او شپو زیات ویر او ماتم وکړي، مګر د خپل خاوند پر مړينه ځلور میاشتې او لس ورځې ماتم کولی شي.**

## ﴿ الله تعالی کومې مېرمن ته نه ګوري؟! ﴾

۴۲)ـ (عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو رضی الله عنهما، عَنِ النَّبِيِّ صلی الله علیه وسلم قَالَ: لَا يَنْظُرُ اللَّهُ إِلَى امْرَأَةٍ لَا تَشْكُرُ لِزَوْجِهَا وَهِيَ لَا تَسْتَغْنِي عَنْهُ)[2]

---

[1] صحیح مسلم (2/ 1125)

[2] **المستدرك على الصحيحين للحاكم ۴/۱۹۳**

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: عبدالله بن عمرو رضی الله عنهما د حديث راوي دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: الله تعالی هغې مېرمن ته نه ګوري چې د خپل خاوند شکريه نه ادا کوي او دا له هغه نه بې نيازه نه وي.

## ﴿ د حجاب ګاڼه ﴾

اسلام د حيا دين دی او حيا ټوله خير دی، شرعي نصوص له مسلمانې مېرمن نه اسلامي او اخلاقي ژوند غواړي، هو؛ داسې ژوند چې له خپلو هم جنسو او هم سيالو سره هم قراني او نبوي لارښوونو ته پام وکړی.

۴۳)ـ (لاَ تُبَاشِرُ الْمَرْأَةُ الْمَرْأَةَ، فَتَنْعَتَهَا لِزَوْجِهَا كَأَنَّهُ يَنْظُرُ إِلَيْهَا) [1]

ژباړه:رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: مباشرت (بربنډه دې نه يوځای کېږي) دې نه کوي يوه مېرمن له بلې مېرمنې سره چې هغه يې بيا خپل مېړه ته صفت او ستاينه کوي، دا داسې ده ګوا چې دا سړی هغې مېرمن ته ګوري.

دا حديث مسلمانو مېرمنو ته سپارښتنه کوي چې هم سيالو سره هم د حجاب ګاڼې ته هرو مرو پام وکړئ.

## ﴿ د مهربانې مور نازولې جوړه! ﴾

۴۴)ـ امام بخاري او مسلم رحمهما الله د ام المومنين عائشې رضی الله عنها نه حديث نقل کړی، نبي صلی الله عليه وسلم ته يوه مېرمن راغله او دوه لورګانې يې هم ورسره وې، له مانه يې د خوراک د څه څيز غوښتنه وکړه، ماسره د يوې دانې خرما پرته نور څه نه و، هغه مې ورته ورکړه، مهربانې مور خرما دوه ځايه کړه، نيمه يې يوې لور ته او نيمه

[1] صحيح البخاري ۷/۳۸

ketabton.com - The Digital Library



نوره يې بلې لور ته ورکړه، خپله يې ترې هېڅ  هم ونه خواړه، بيا پاڅېده او د لور ګانو له نازولې جوړې سره له کوره ووته، هماغه شېبه نبي صلی الله عليه وسلم کور ته راننوت، ما ورته د هغې مېرمن کيسه وکړه، نبي صلی الله عليه وسلم وويل : (مَنِ ابْتُلِيَ مِنَ الْبَنَاتِ بِشَيْءٍ، فَأَحْسَنَ إِلَيْهِنَّ كُنَّ لَهُ سِتْرًا مِنَ النَّارِ)[1]

ژباړه: څوک چې له دې لورګانو څخه پر څه شي و ازمايل شي او دا ورسره ښېګڼه وکړي، نو؛ دده لپاره به دا لورګانې د دوزخ له اور نه پرده جوړه شي.

اسلامي او مذهبي لارښوونې مسلمانې مېرمنې د اولادونو منځ کې مساوات او برابري ته رابولي، سپارښتنه يې کړې چې زامن او لورګانې مو يو څېر ونازوئ د هغوی په منځ کې توپيري چلن مه کوئ، کومه مينه او ناز چې زوی ته ورکوئ پر هماغه ناز او مينه مو لورګانې هم ونازوئ، که د بچيو په منځ کې مو دا عادلانه اصل ژوندی کړ اميد دی چې الله تعالی به مو پر ښکلي جنت ونازوي.

۴۵)ـ (عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ  رضی الله عنهما، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلی الله عليه وسلم: مَنْ وُلِدَتْ لَهُ أُنْثَى فَلَمْ يَئِدْهَا وَلَمْ يَنْهَهَا وَلَمْ يُؤْثِرْ وَلَدَهُ يَعْنِي الذَّكَرَ عَلَيْهَا، أَدْخَلَهُ اللَّهُ بِهَا الْجَنَّةَ)[2]

ژباړه: ابن عباس  رضی الله عنهما د حديث راوي دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: څوک چې لور وزېږوي، نه يې ژوندۍ ښخه

---

[1] صحيح مسلم ۴/۲۰۲۷

[2] المستدرك على الصحيحين للحاكم ۴/۱۹۶

ketabton.com - The Digital Library



کړي، نه يې سپکاوی وکړي او نه خپل نارينه اولاد پر هغې غوره وګڼي، الله تعالی به يې جنت ته ننباسي.

(دې حديث کې هغه مور او پلار ته جنتي زېری دی چې مسلمان زوی او مسلمانې لور ته مساوي او يو برابر مينه او ناز ورکوي).

## ﴿ د مسلمانې مېرمن څلور ځانګړنې ﴾

۴۶)ـ (عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضی الله عنه، عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم، قَالَ:" تُنْكَحُ الْمَرْأَةُ لِأَرْبَعٍ: لِمَالِهَا، وَلِحَسَبِهَا، وَلِجَمَالِهَا، وَلِدِينِهَا، فَاظْفَرْ بِذَاتِ الدِّينِ تَرِبَتْ يَدَاكَ) [1]

ژباړه : ابو هريرة رضی الله عنه د حديث راوي دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي : نکاح کولی به شي ښځه، د څلورو ځانګړنو له امله د مال، نسب، ښايست او دين پر بنسټ، د دين پر خاوندې کامياب شه، ستا لاسونه دې په خاورو کې سپېره شي).

د ژوند په لنډمهالي جونګړه کې د ملګرې ټاکنې لپاره يادې شوې هره ځانګړنه ځانګړې ارزښت لري چې د عقل خاوندان پرې خپله ښه پوهېږي، مګر دين هغه ځانګړنه ده چې د رحمت نبي هم پرې سپارښتنه کړې ده او دا هغه ځانګړنه ده چې په دنيا او اخرت کې خپل مينه وال ته شرافت او عزت ورکوي.

---

[1] صحيح مسلم ۲/۱۰۸۶

ketabton.com - The Digital Library



# ﴿ د مسلمانې مېرمن سوغات ﴾

د رحمت نبي صلی الله عليه وسلم د اسلامي امت مېرمنې له خپلو ګاونډيانو سره د نېکۍ چال چلن ته بللي او هغوی يې پر دې پوه کړي چې د نېکۍ په چارو کې هېڅ کوچنۍ نيکي کوچنۍ مه ګڼئ، ځکه د نېکۍ قدر له الله تعالی سره وي، نيکي که هر څومره کوچنۍ وي مګر چې اخلاص او د نبي د طريقې برابره وي د الله تعالی په وړاندې ستره بدله لري، د همدې له امله چې کله کله د مېرمنو فکر کې ځينې نېکۍ کوچنۍ معلومېږي او نه يې کوي مګر د رحمت نبي يې د نېکيو لور ته داسې وربلي :

۴۷)ـ (عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ر رضی الله عنه، عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ: «يَا نِسَاءَ الْمُسْلِمَاتِ، لاَ تَحْقِرَنَّ جَارَةٌ لِجَارَتِهَا، وَلَوْ فِرْسِنَ شَاةٍ) [1]

ژباړه: ابو هريرة رضی الله عنه د حديث راوي دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم مسلمانو ښځمنو ته په خطاب کې داسې ويلي: ای مسلمانو ښځمنو! سپک دې نه ګڼي يوه ګاونډۍ د بلې ګاونډۍ سوغات که څه هم چې د پسه د ښنګري هډوکی وي.

د نبوي سپارښتنې په څېر د الله تعالی کتاب هم د نېکيو په لړ کې مؤمنان نارينه او ښځمنې داسې خبروي:

(فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ) [الزلزلة: 8]

ژباړه: نو چا چې عمل کړی دی په مقدار د ذرې نېکې، وبه ويني هغه، او چا چې عمل کړی، په مقدار د ذرې بدي، وبه ويني هغه.

---

[1] صحيح البخاري ۳/۱۵۳

ketabton.com - The Digital Library



**اوس نو د قران او سنت د غبرگو مثالونو په رڼا کې دا خبره ترلاسه کولی شو چې هېڅ نېکي وړه مه گڼه، ځکه د الله تعالی په دفترونو کې د ذرې په اندازه نېکي او بدي هم ثبت او ليکلې وي.**

**علامه ابن قيم رحمه الله**

**هوکی مسلمانو مؤمنو خويندو!**

**په دې هيله چې د ژوند په نړۍ کې به د خپلو کورنيو په څنگ کې د خپلو گاونډيانود شرعي حقونو درناوی وکړئ او د وړتيا لرلو په حالت کې به هغوی په مالي مرستو او اسلامي اخلاقي چال چلند ونازوئ، که دا هېڅ نه وي نو هڅه وکړئ د خپلو گاونډيانو مېرمنې مو پر خوږو خبرو ونازوئ، ځکه د رحمت نبي صلی الله عليه وسلم لارښوونه کړې:**

(اتَّقُوا النَّارَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ، فَإِنْ لَمْ تَجِدُوا، فَبِكَلِمَةٍ طَيِّبَةٍ) [1]

**(د دوزخ له اور نه ځانونه بچ کړئ که څه هم چې په نيمه خرما سره وي او که دا هم مونده نه کړئ، نو؛ پر خوږې کلمې او خبرې سره ځان لپاره ډال جوړ کړئ).**

**هوکی؛ اتلو خويندو!**

**هغوی هم پر دې مکلف دي چې له تاسو منندويه اوسي که چېرې هغوی د مننې دا ستر اسلامي اصل پلی کړي، امېد دی چې ستاسو او هغوی په منځ کې به د مينې باب پرانيستل شي او هم به ترې الله تعالی منندويه شي، محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم ويلي :**

(عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضی الله عنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا يَشْكُرُ اللَّهَ مَنْ لَا يَشْكُرُ النَّاسَ) [2]

---

[1] مسند أحمد مخرجا (30/ 188)

[2] **مسند أبي داود الطيالسي ۴/۲۳۲**

ketabton.com - The Digital Library



**ژباړه: ابو هريرة رضی الله عنه د حديث راوي دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: د الله تعالی مننه نه شي کولی، هغه څوک چې له خلکو مننه نه کوي.**

# ﴿کوم يو ته ډالۍ واستوم؟!﴾

۴۸)ـ (عَنْ عَائِشَةَ رضی الله عنها، قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ لِي جَارَيْنِ فَإِلَى أَيِّهِمَا أُهْدِي، قَالَ: إِلَى أَقْرَبِهِمَا مِنْكِ بَابًا) [1]

**ژباړه: عائشه رضی الله عنها وايي، رسول الله صلی الله عليه وسلم ته مې وويل: زما دوه ګاونډيان دي، کوم يو ته ډالۍ واستوم؟**

**رسول الله وويل: د کوم يو د کور دروازه چې درته ډېره نږدې وي.**

# ﴿جنتي مېرمن﴾

۴۹)ـ عن أبي هريرة رضی الله عنه قال: قِيلَ لِلنَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ فُلَانَةً تَقُومُ اللَّيْلَ وَتَصُومُ النَّهَارَ وَتَفْعَلُ وَتَصَدَّقُ وَتُؤْذِي جِيرَانَهَا بِلِسَانِهَا؟ فَقَالَ: رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (لَا خير فيها هی من أهل النار) وَفُلَانَةٌ تُصَلِّي الْمَكْتُوبَةَ وَتَصَّدَّقُ بِأَثْوَارٍ وَلَا تُؤْذِي أَحَدًا؟

فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (هی من أهل الجنة) [2]

**ژباړه: ابو هريره رضی الله عنه وايي: د رحمت نبي صلی الله عليه وسلم ته وويل شو: فلانکۍ مېرمن د شپې قيام اليل (تهجد) کوي، د ورځې روژه نيسي، نېکې چارې سرته رسوي، صدقې او خيراتونه ورکوی، مګر پر ژبه خپل ګاونډي ته زيان رسوي.**

---

[1] **مسند أبي داود الطيالسي ۳/۱۲۰**

[2] الأدب المفرد بالتعليقات (ص: 63)/ الشخصية المرأة المسلمة ۲۶۴ مخ

ketabton.com - The Digital Library



رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل : (لَا خَيْرَ فِيْهَا هِيَ مِنْ أَهْلِ النَّارِ)
ژباړه: دا بې خيره مېرمن ده او دا له دوزخيانو څخه ده.
صحابه كرامو وويل : او هغه فلانكۍ مېرمن يوازې فرضي لمونځونه كوي او څه پنير صدقه كوي او هېچاته ضرر نه رسوي.
رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل : (هِيَ مِنْ أَهْلِ اَلجَنَةِ).
ژباړه: دا له جنتيانو څخه ده. [1]

# ﴿ مسلمانه مېرمن او اسلامي نړۍ ﴾

۵۰)ـ (عَنْ أَبِي أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيِّ رضى الله عنه، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم، قَالَ: لَا يَحِلُّ لِمُسْلِمٍ أَنْ يَهْجُرَ أَخَاهُ فَوْقَ ثَلَاثِ لَيَالٍ، يَلْتَقِيَانِ فَيُعْرِضُ هَذَا وَيُعْرِضُ هَذَا، وَخَيْرُهُمَا الَّذِي يَبْدَأُ بِالسَّلَامِ) [2]

ژباړه: ابو ايوب الانصاري رضى الله عنه د حديث راوى دى، د مينې او رحمت نبي محمد مصطفى صلى الله عليه وسلم ويلي : هېڅ مسلمان (نارينه او ښځينه) ته روا نه دي چې خپل مسلمان ورور پرېدي يانې چې له درې ورځو زياتې ورسره اړيکې پرېکړي) كله چې دواړه مخامخ كېږي دى له هغه او هغه له ده څخه مخ اړوي او په دې دواړو کې غوره هغه كس دى چې لومړى په سلام پيل وكړي.

دا خبره خو ټولو مسلمانو ورونو او خويندو ته څرگنده ده چې د شرعي تكاليفو په سرته رسولو كې برابر دي او كله چې دې ته ورته شرعي نصوصو كې د (مسلم) مسلمان كلمه راځي، نارينه او ښځمنې دواړو ته شامليږي.

---

[1] الأدب المفرد بالتعليقات ٦٣مخ

[2] صحيح مسلم ۴/۱۹۸۴

ketabton.com - The Digital Library



هو؛ داسې شرعي سپېڅلي مکلفيتونه چې په وسيله يې د فرد، کورنۍ او ټولنې د ژوند نظام تنظيمېږي، په ټوليز ډول هغه کړنې چې د عقيدې او عمل جوړې پورې تړاو لري، اغېزې يې د ټولنې په چاپيريال خورېږي او پايله کې يې يوه داسې اسلامي نړۍ رامنځ ته کېږي چې نامسلمان وګړي يې هم منلو او قبلولو ته خپله لېوالتيا ښکاره کوي، پر همدې بنسټ اړينه ده چې مسلمانې مېرمنې هم خپلو منځونو کې صميمانه اړيکې وپالي او د کينې او کرکې په بلاګانو خپل نېک عملونه ونه داړي چې د نېکو عملونو او خوږو اسلامي اخلاقو په مانيز څواک مسلمانې مېرمنې په ټولنه کې په شرعي حجاب پوښلې، داسې رول ادا کړي چې د زيانمنو ايمانونو لرونکي نارينه او ښځمنې ترې د خپلو ايماني ودانيو د رغاونې لپاره مذهبي زده کړه وکړي او هم د دوی د غېږې په زانګو کې داسې کوچنيان وروزل شي چې د اسلامي فطرت د سترې ډالۍ سره پر ايماني او عقيدوي او جنتي ګاڼه هم سينګار او پسوللی وي.

۵۱)ـ ابو سعيد الخدري رضی الله عنه په حيا کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم تشبېه داسې وړاندې کړې: (كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَشَدَّ حَيَاءً مِنَ العَذْرَاءِ فِي خِدْرِهَا، فَإِذَا رَأَى شَيْئًا يَكْرَهُهُ عَرَفْنَاهُ فِي وَجْهِهِ) [1]

ژباړه: رسول الله صلی الله عليه وسلم په حيا او پرده کې، په کور کې له ناستې پېغلې څخه ډېر حيا لرونکی و، کله به چې رسول الله صلی الله عليه وسلم داسې څه څيز وليد چې هغه به يې نه خوښېده، نو موږ به د هغه په مخ کې د خپګان اثرات پېژندل.

[1] صحيح البخاري ۸/۲۶

ketabton.com - The Digital Library



# ﴿ بدگوماني ستر دروغ دي ﴾

۵۲)ـ (عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه، عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم إِيَّاكُمْ وَالظَّنَّ، فَإِنَّ الظَّنَّ أَكْذَبُ الْحَدِيثِ) [1]

**ژباړه: ابو هريرة رضى الله عنه د حديث راوي دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: له بدگومانۍ څخه ځان وساتئ، ځکه بدگوماني ستر دروغ دي.**

**د اسلام لوړ پيغام او د نبوي دربار ستره لارښوونه ده چې مسلمان نارينه او ښځمنه يې پر نورو د بدگومانۍ کولو څخه منع کړې ده، قران او سنت مسلمانو مېرمنو ته سپارښتنه کوي چې له بدو گومانونو څخه ځان وساتئ او نور مسلمانان نارينه او ښځمنې د حقيقت او يقين نه په لرې اټکلي تورونو مه تورنوئ او مه پرې ناسم گومانونه کوئ.**

**بلکې اسلامي اخلاق دادي چې تل دې پر نورو د خير گومانونه وشي تر هغې چې بد يې ترې نه وي ليدلي او دا د نبي صلى الله عليه وسلم لارښوونه هم ده.**

**په ټوليزه توگه مسلمانان پر نورو د ډول، ډول گومانونو سره روږدي دي ښايي ورونه او خويندې له ناسمو او ناوړو گومانونو څخه ډډه وکړي، هسې نه چې د گومانونو په کولو د سترو درواغجنو په ليکلړ کې شامل شي، ځکه (بد گومان ستر دروغ دي).**

# ﴿ مسلمانې مېرمن سره ملنډې نه ښايي ﴾

**مسلمانې مېرمن ته نبوي پيغام دادی چې دا به خپله ژبه په خپلې ولکه کې ساتي، هڅه به کوي چې په ژبه پر نورو تور ونه لگوي، ملنډې پرې**

---

[1] **مسند أحمد مخرجا ١٦/٣٢٥**

ketabton.com - The Digital Library



**ونه وهي، غيبت او کنځل پرې ونه کړي، ځکه دا هغه گناهونه دي چې د ژبې په وسيله سرته رسيږي او د مسلمانې مېرمن ايمان ته پرې زيان رسيږي.**

**۵۳)ـ اُم المؤمنين عائشه رضی الله عنها ويلي : گران پيغمبر محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم ته مې وويل :**

(حَسْبُكَ مِنْ صَفِيَّةَ كَذَا وَكَذَا، قَالَ غَيْرُ مُسَدَّدٍ: تَعْنِي قَصِيرَةً، فَقَالَ: لَقَدْ قُلْتِ كَلِمَةً لَوْ مُزِجَتْ بِمَاءِ الْبَحْرِ لَمَزَجَتْهُ) (1)

**ژباړه: صفيه دومره، دومره ده، ځينې راويانو ويلي: يانې قد يې لنډ دی.**

**رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل : عائشې ! تا داسې خبره وکړه، که د سمندر له اوبو سره گډه کړای شي، سمندر به فاسد او خراب کړي.**

# «فطرتي گاڼه»

**۵۴)ـ امام مسلم رحمه الله د جرير بن عبدالله رضی الله عنهما په روايت حديث نقل کړی، رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي :** (مَنْ يُحْرَمِ الرِّفْقَ يُحْرَمِ الْخَيْرَ) (2)

**ژباړه: څوک چې له نرمۍ څخه بې برخې کړای شو، هغه له ټول خير نه بې برخې کړای شو.**

**د قران او سنت له جوړه قوانينو څرگنده ده، چې مسلمانه مېرمن به پر نرمۍ، مهربانۍ او خواخوږۍ سينگاره وي، بدخويه او بد ژبې به نه وي، ځکه بد خويي او بد ژبي له يو لوري د نبوي اخلاقو خلاف عمل**

---

[1] سنن أبي داود ۴/۲۶۹

[2] **مسند أحمد مخرجا ۳۱/۵۷۰**

ketabton.com - The Digital Library



**دی او له بل پلوه د مسلمانې مېرمن اخلاقي ښايست او فطرتي ګاڼې ته زيان رسوي او تر ټولو ستر زيان دادی چې له نرمۍ او مهربانۍ نه بې برخې کېدل، له خير نه بې برخې کېدل دي.**

## ﴿ اخلاقي ښايست ﴾

**۵۵)ـ** (عَنْ عَائِشَةَ **رضى الله عنها** ، زَوْجِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم، عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم، قَالَ: إِنَّ الرِّفْقَ لَا يَكُونُ فِي شَيْءٍ إِلَّا زَانَهُ، وَلَا يُنْزَعُ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا شَانَهُ) [1]

**ژباړه: له اُم المؤمنين عائشه رضى الله عنها څخه روايت دی، رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: يقيناً نرمي نه وي په يو شي کې مګر هغه څيز لره ډولي او ښايسته کوي، او نه ويستل کېږي د يو څيز نه مګر هغه څيز لره بدرنګوي.**

**له دې نبوي پيغام نه خبره روښانه ده چې نرمي د هر شي ډول او ارزښت دی، په کوم شي کې چې وي هغه د خلکو نفسونو، زړونو او سترګو ته ښکلی ښکاري او له څه نه چې ووځي له هغه شي نه هم د خلکو زړونه او روحونه کرکه کوي، د خلکو د زړونو د قلفونو پرانېستلو لپاره ښه کيلي نرمي او نرم اخلاق دي.**

**اُم المؤمنين عائشې رضى الله عنها ته هم د رحمت نبي صلى الله عليه وسلم ويلي :** (يَا عَائِشَةُ رضى الله عنها، ارْفُقِي، فَإِنَّ اللَّهَ إِذَا أَرَادَ بِأَهْلِ بَيْتٍ خَيْرًا، دَلَّهُمْ عَلَى بَابِ الرِّفْقِ) [2]

---

[1] صحيح مسلم ۴/۲۰۰۴

[2] مسند أحمد مخرجا ۴۱/۲۵۵

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: ای عائشې رضی الله عنها! نرمي کوه، کله چې الله تعالی یو کور والاو ته د خیر اراده وکړي د نرمۍ لاربسوونه ورته کوي.

پر همدې بنسټ مسلمانو مېرمنو او نارینه و ته لازمه ده چې خپلو اخلاقو ته د رحمت نبي صلی الله علیه وسلم د پیغامونو رنګ ورکړي، نرمي، زړه سواندي او خواخوږي د خپلو اخلاقو ګاڼه جوړه کړي تر هغې چې په برکت یې د رحمت نړۍ ته ورننوځي او هم په داسې حال کې خپلې شپې سبا کړي، چې له خیر نه یې خپله پوره برخه له ځانه سره اخیستې وي.

## ﴿ مسلمانه مېرمن به داسې نه وي؟! ﴾

٥٦ )ـ (عَن اِبْنِ عُمَرَ رضی الله عنهما، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلی الله علیه وسلم، قَالَ: عُذِّبَتِ امْرَأَةٌ فِي هِرَّةٍ سَجَنَتْهَا حَتَّى مَاتَتْ، فَدَخَلَتْ فِيهَا النَّارَ، لاَ هِيَ أَطْعَمَتْهَا وَلاَ سَقَتْهَا، إِذْ حَبَسَتْهَا، وَلاَ هِيَ تَرَكَتْهَا تَأْكُلُ مِنْ خَشَاشِ الأَرْضِ) [1]

له ابن عمر رضی الله عنهما څخه روایت دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: یوې ښځې ته د دې له امله عذاب ورکړای شو، چې یوه پیشو یې قید (بنده) کړې وه، نه یې هغې ته خوراک او نه یې څښاک ورکاوه او نه یې دېته پرېښودله چې د ځمکې له نورو کوچنیو حشراتو څخه ځانله خواړه برابر کړي، تر دې چې هغه پیشو مړه شوه.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم پورته یاد شوی حدیث پر دې خبره څرګند دلیل دی، چې پر حیواناتو ظلم د الله تعالی د قهر او غضب ستر لامل دی، هغوی چې په غیر شرعي او ناسم ډول پر بېلابېلو حیواناتو ظلم او تېری کوي، طبیعي ده چې دا ډول کسان به د الله

[1] صحیح البخاري ۴/۱۷۷

ketabton.com - The Digital Library



تعالی له لورې په ډول، ډول عذابونو او کړاوونو اخته کېږي، دا په داسې حال کې چې د رحمت پيغمبر محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم خپل امت پر حيواناتو رحم او شفقت ته هڅولی، هغوی يې اړ کړي، چې له حيواناتو سره د نرمۍ او خواخوږۍ نه کار واخلي، چې د الله تعالی له لورې پر کړاوونو اخته نه شي.

## ﴿ مسلمانه مېرمن ښايي داسې وي! ﴾

۵۷)ـ (عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم: بَيْنَمَا كَلْبٌ يُطِيفُ بِرَكِيَّةٍ، كَادَ يَقْتُلُهُ العَطَشُ، إِذْ رَأَتْهُ بَغِيٌّ مِنْ بَغَايَا بَنِي إِسْرَائِيلَ، فَنَزَعَتْ مُوقَهَا فَسَقَتْهُ فَغُفِرَ لَهَا بِهِ) [1]

ژباړه: ابو هريره رضی الله عنه د حديث راوي دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: يو سپی و چې د ډېرې تندې له امله يې د کوهی ختې څټلې، نږدې و چې د تندې له امله مړ شي، د بني اسرائيلو د يوې زناکارې ښځې پرې سترګې ولګېدې، خپله موزه يې له پښې وويسته، په هغې کې يې له کوهي نه د سپي لپاره اوبه راوويستلې بيا يې سپي ته ورکړې (چې د هغه تنده پرې خړوبه شي) د بدکارې ښځې دا عمل د الله تعالی خوښ شو نو؛ د همدې له امله يې ورته ښښنه وکړه.

## ﴿ د ملائکو د دعا په لړ کې ﴾

۵۸)ـ (عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه، أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم قَالَ: مَا مِنْ يَوْمٍ يُصْبِحُ العِبَادُ فِيهِ، إِلَّا مَلَكَانِ يَنْزِلاَنِ، فَيَقُولُ أَحَدُهُمَا: اللَّهُمَّ أَعْطِ مُنْفِقًا خَلَفًا، وَيَقُولُ الآخَرُ: اللَّهُمَّ أَعْطِ مُمْسِكًا تَلَفًا) [2]

[1] صحيح البخاري ۴/۱۷۳

[2] صحيح البخاري ۲/۱۱۵

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: ابو هريرة رضی الله عنه د حديث راوي دی، محمد صلی الله عليه وسلم ويلي: نه وي داسې ورځې چې بنده ګان پکې سبا کوي، مګر دوه ملائکې له اسمان نه راکوزېږي، يوه يې په دعا کې داسې وايي:

يا الله ! خرڅ کوونکي ته نور مال او بدله ورکړې.

هغه بله وايي: يا الله! د بخيل مال هلاک کړې.

ګرانقدره مسلمانو خويندو !

که مالي ورتيا لرئ، بېره وکړئ، له بې وزلو او اړمنو سره مرسته وکړئ چې له يو لوري مو د صدقې په بانک کې الله تعالی سره څه امانت ايښی وي او له بل لوري د ملائکو د جوړې د دعا په لپه کې له نېکو بدلو څخه برخمنې شئ، پام مو وي چې د بخيلۍ او شومتيا لاره خپله نه کړئ چې بيا به مو د ملائکې بده دعا هلاکې او تباه کړي.

## ﴿د زهرو ډالۍ﴾

قرآن کريم څه وايي؟

د رسول الله صلی الله عليه وسلم سيرت او اخلاق څه لارښوونه کوي؟

هو؛ انسانان څه کوي؟

الله تعالی په قرآن کريم کې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته د سيرت او اخلاقو په برخه کې داسې وحيې پيغام رالېږلی:

(وَٱلْكَاظِمِينَ ٱلْغَيْظَ وَٱلْعَافِينَ عَنِ ٱلنَّاسِ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿١٣٤﴾ وَٱلَّذِينَ إِذَا فَعَلُواْ فَاحِشَةً أَوْ ظَلَمُوٓاْ أَنْفُسَهُمْ ذَكَرُواْ ٱللَّهَ فَٱسْتَغْفَرُواْ لِذُنُوبِهِمْ وَمَنْ يَغْفِرُ ٱلذُّنُوبَ إِلاَّ ٱللَّهُ وَلَمْ يُصِرُّواْ عَلَىٰ مَا فَعَلُواْ وَهُمْ يَعْلَمُونَ﴿١٣٥﴾ أُوْلَـٰئِكَ جَزَآؤُهُمْ مَّغْفِرَةٌ مِّنْ رَّبِّهِمْ وَجَنَّاتٌ تَجْرِى مِنْ تَحْتِهَا ٱلأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَنِعْمَ أَجْرُ ٱلْعَامِلِينَ ﴿١٣٦﴾سورة آل عمران)

ketabton.com - The Digital Library



("دا احسان مندان" او پر خلكو غوسه خواره او خلكو ته ښوونكي دي. الله تعالى له احسانمندانو سره مينه كوي او "احسانمندان" هغه كسان دي، چې كله بې حيايي يا پرځان ظلم وكړي؛ نو الله تعالى ياد كړي او د خپلو ګناهونو ښنه ترې وغواړي او بې له الله تعالى بل څوك دى، چې ټول ګناهونه وښي او "احسانمندان" پر كړې ګناه همېشه والى نه كوي او دوى پوهېږي. د دوى بدله د رب له لورې ښنه او جنتونه دي، چې لاندې به ترې همېشنى ويالې بهېږي او د دغو چارو كوونكيو لپاره غوره اجر دى.)

(فَٱصْفَحِ ٱلصَّفْحَ ٱلْجَمِيلَ﴿٨٥﴾ سورة الحجر)

(نو په ښه توګه مخ وګرځوه."په ښايسته طريقې سره".)

(خُذِ ٱلْعَفْوَ وَأْمُرْ بِٱلْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ ٱلْجَاهِلِينَ﴿١٩٩﴾ سورة الاعراف)

(ونيسه معافي (پر معافى عمل كوه) او پر نېكۍ حكم كوه او له ناپوهانو څخه مخ واړوه.)

د رسول الله صلى الله عليه وسلم په فطرت كې عفوه او حلم نغښتى و، حلم، وقار او د تېرېدنې عالي خصلت او خوى د هغه په سپېڅلي بدن كې داسې ځاى درلود، چې له ښكلي معطر سيرت نه يې خوږبويه وږمې پر ښكلي صورت راخورې وې، چې له همدې امله به يې د خپل سر دښمنان او دښمنانې هم ښنلې.

۵۹)ـ امام بخاري رحمه الله او امام مسلم رحمه الله د رسول الله صلى الله عليه وسلم له سيرت نه د عفوې يوه بېلګه داسې ذكر كړې ده:(يوې يهودۍ مېرمنې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د پسه داسې غوښه په سوغات كې راوړه، چې زهر يې پرې شيندلي و.

ketabton.com - The Digital Library



رسول الله صلی الله علیه وسلم له خپلو ملګرو سره له هغې غوښې نه خوراک پیل کړ، څو شېبې وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلو ملګرو ته وویل: لاسونه مو ونیسئ! نوره مه خورئ! په دې کې زهر ګډ شوي.

خلکو هغه یهودۍ مېرمنه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راوستله، رسول الله صلی الله علیه وسلم وپوښتله: دا کار دې ولې وکړ؟

هغې وویل: ما غوښتل، چې دا معلومه کړم چې که ته رښتینې نبي یې، نو؛ الله تعالی به درته خبر درکړي او زهر به درته څه ضرر ونه رسوي او که نبي نه یې؛ نو موږ به درڅخه بې غمه شو.

صحابه کرامو رضی الله عنهم وویل: ای د الله تعالی رسوله! (صلی الله علیه وسلم) دا مېرمن ووژنو؟!

د رحمت او عفوې پیغمبر محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم وویل: نه! مه یې وژنئ! بیا یې هغې مېرمنې ته ښنه وکړه.)[1]

## ﴿ د مينې د امېل دوه کړی! ﴾

٦٠)ـ (عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه، عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ: لَوْ دُعِيتُ إِلَى ذِرَاعٍ أَوْ كُرَاعٍ لَأَجَبْتُ، وَلَوْ أُهْدِيَ إِلَيَّ ذِرَاعٌ أَوْ كُرَاعٌ لَقَبِلْتُ)[2]

ژباړه: ابو هريره رضی الله عنه د حدیث راوي دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: که چېرې زه د (حلال خاروي) د لاس یا ښنګري (دعوت) ته وبللی شم هرو مرو به یې بلنه قبوله کړم او که چېرې ماته د

[1] متفق علیه، شخصیة المراءة المسلمة، مخ: ۳۷٦.
[2] صحيح البخاري ۳/۱۵۴

ketabton.com - The Digital Library



پسه یا بیزې و غیره لاس او ښنګرى (پانچه) ډالى کړاى شي ضرور به يې قبوله کړم.

د رحمت نبي صلی الله علیه وسلم مسلمانو نارينه او ښځمنو ته د دعوت او ډاليو د منلو او قبلولو سپارښتنه په هومره ښايسته او رنګينو نبوي کلماتو سره کړې چې له دې نبوي کلماتو هر مسلمان نارينه او مسلمانه ښځمنه دا زده کولى شي چې د شرعي روا دعوت او شرعي ډالۍ منل نبوي اخلاق دي او دا دواړه د زړونو په نږۍ کې د مينې د امېل دوه ستري او ګرانبيه کړۍ دي، داسې کړۍ چې لاسته راوړل يې د ټولنيز ژوند لړۍ لا نوره هم غځوي.

## ﴿ مېلمه پالې مېرمنې ﴾

٦١)ـ (عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ رضی الله عنه، عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم أَنَّهُ قَالَ: لَا خَيْرَ فِيمَنْ لَا يُضِيفُ) [1]

ژباړه: عقبه بن عامر رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه روايت کړى: نشته خير په هغه چا کې چې چاته مېلمستيا نه ورکوي.

ګرانو مسلمانانو خويندو!

زه پردې باور لرم چې تاسو تر نارينه و ډېرې خير ته لېواله يئ او د خير لاسته راوړل قربانۍ ته اړتيا لري، هو؛ داسې قرباني چې هم اسلامي او هم انساني اخلاق وي، د بېلګې په توګه مېلمه پالنه يادولى شو، مېلمه پالنه اسلامي اخلاق دي او ددې اخلاقو بنسټګر ابراهيم عليه السلام دى، په هر مسلمان نارينه او مسلمانې ښځمنې واجب دي چې مېلمه ته د

[1] مسند أحمد ط الرسالة ٢٨/٦٣٥

ketabton.com - The Digital Library



هغه د مېلمه پالنې حق ورکړي درناوی یې وکړي او په پوره مینه یې د راتګ هر کلی وکړي.
د اسلام په سپېڅلي دین کې دا خبره هم روښانه ده چې که چېرې څوک مېلمه ته د هغه حق نه ورکوي د قران او سنت په رڼا کې یې پالنه او درناوی نه کوي نو د اسلام سپېڅلی دین مېلمه ته دا واک ورکوي چې له داسې بخیلو او شومو خلکو څخه خپل حق ترلاسه کړي.

## ﴿ مېلمه خپل حق اخیستلی شي؟! ﴾

٦٢)ـ (عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ رضى الله عنه، أَنَّهُ قَالَ: قُلْنَا لِرَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم: إِنَّكَ تَبْعَثُنَا، فَنَنْزِلُ بِقَوْمٍ لاَ يَقْرُونَا، فَمَا تَرَى فِيهِ؟ فَقَالَ لَنَا: إِنْ نَزَلْتُمْ بِقَوْمٍ، فَأُمِرَ لَكُمْ بِمَا يَنْبَغِي لِلضَّيْفِ فَاقْبَلُوا، فَإِنْ لَمْ يَفْعَلُوا، فَخُذُوا مِنْهُمْ حَقَّ الضَّيْفِ) [1]

ژباړه: عقبه بن عامر رضی الله عنه ویلي: رسول الله صلی الله علیه وسلم ته مو وویل : ته موږه لېږې، موږ داسې قوم ته ورشو چې هغوی مېلمستیا نه راکوي نو په دې اړه ستاسو څه رایه ده؟
نبي صلی الله علیه وسلم وویل : که تاسو داسې خلکو ته ورشئ چې هغوی ستاسو مناسب مېلمستیا برابره کړي نو مېلمستیا یې قبوله کړئ، که باالفرض هغوی انکار وکړ نو د مېلمه پالنې هغه حق ترې واخلئ چې ستاسو لپاره مناسب وي.

[1] صحيح البخاري ٣/١٣١

ketabton.com - The Digital Library



# ﴿ د فطرت سنت ﴾

٦٣)ـ (عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه، عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ: الفِطْرَةُ خَمْسٌ: الخِتَانُ، وَالِاسْتِحْدَادُ، وَنَتْفُ الإِبْطِ، وَقَصُّ الشَّارِبِ، وَتَقْلِيمُ الأَظْفَارِ) [1]

**ژباړه : ابو هريرة رضى الله عنه د حديث راوي دى رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: د فطرت سنت پنځه دي سنتي کول،د نامه لاندې وېښته لرې کول، د تخرگونو ويښتان اخيستل، د برېتونو لنډول او د نوکانو پرېکول .**

# ﴿ د سلام سوغات ورسوئ! ﴾

**جبريل عليه السلام هم د سلام د ځانگړيو شرعي کلماتو التزام او کارونه کړې، همدا راز ام المؤمنين عائشه رضى الله عنها هم د جبريل عليه السلام سلام ته په شرعي او وضع شويو ځانگړيو کلمو ځواب ورکړى و.**

٦٤)ـ (عَنْ عَائِشَةَ رضى الله عنها: أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم، قَالَ لَهَا: يَا عَائِشَةُ هَذَا جِبْرِيلُ يَقْرَأُ عَلَيْكِ السَّلاَمَ، فَقَالَتْ: وَعَلَيْهِ السَّلاَمُ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ، تَرَى مَا لاَ أَرَى، تُرِيدُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) [2]

**(ام المؤمنين عائشه رضى الله عنها وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم راته وويل: اى عائشې رضى الله عنها ! جبريل عليه السلام پر تا سلام وايي.**

**ام المؤمنين عائشې رضى الله عنها ورته په ځواب کې وويل:** (وَعَلَيْهِ السَّلاَمُ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ)

**ژباړه: او پر هغه دې سلام، د الله تعالى رحمت او برکتونه وي.**

---

[1] صحيح البخاري ٨/٦٦

[2] صحيح البخاري ٤/١١٢

ketabton.com - The Digital Library



سلام د اسلام څانګه ده، هو؛ داسې څانګه چې د مينې له خوږو مېوو نه ډکه ده، د سلام خپرول او دودول ايماني فرهنګ دی، داسې فرهنګ چې د ټولنې د وګړيو په منځ کې د محبت تارونه غزوي او د مينې له نړۍ نه انسان د جنت نړۍ ته رسوي، يوه خبره د يادولو وړ ده چې د بل چا سلام رسول هم ايماني وجيبه او امانت دی، کله چې تاته څوك ووايي: (زما سلام پرې وايه) اوس نو ستا مسوليت دی چې د سلام سوغات د امانت په څېر د هغه ملګري يا دوست ته ولېږي، په دې هيله چې ګرانې خويندې به مې په دې برخه کې له نبي  نه پوره زده کړه وکړي چې د جبريل عليه السلام سلام يې عايشې  رضی الله عنها ته ورساوه.

٦٥ـ (عَن أُمِّ هَانِئٍ بِنْتَ أَبِي طَالِبٍ رضی الله عنها قَالَتْ: ذَهَبْتُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم عَامَ الفَتْحِ فَوَجَدْتُهُ يَغْتَسِلُ وَفَاطِمَةُ تَسْتُرُهُ فَقَالَ: مَنْ هَذِهِ؟ فَقُلْتُ: أَنَا أُمُّ هَانِئٍ) [1]

ژباړه: ام هاني رضی الله عنها د حديث روايت کوي، وايي: د مکې د فتحې په کال د رسول الله صلى الله عليه وسلم کور ته ورغلم، غسل يې کاوه او فاطمې رضی الله عنها ورته پرده نيولې وه.
رسول الله صلى الله عليه وسلم وپوښتل: څوك يې؟
ما وويل: ام هاني يم.

ام هاني  رضی الله عنها د رسول الله صلى الله عليه وسلم د کاکا لور او د ګران قدره علی المرتضی  رضی الله عنه خورکۍ وه د دغې سپېڅلې او اتلې مېرمن د ژوند په کتاب کې داسې اسلامي درسونه او اخلاقي

---
[1] صحيح البخاري ١/٦٤

ketabton.com - The Digital Library



لارښوونې ليدل کېږي چې د اسلامي امت د هر پړاو مسلمانو مېرمنو ته د ايمان د مدرسې د منهج او نصاب بنه لري.

دې حديث کې يوه ستره لارښوونه دا هم ده چې څوك درنه پوښتنه وکړي، نو ته به ځان په خپل نوم ورپېژنې، يانې داسې به نه وايې: چې زه يم، بلکې خپل نوم به وريادوې.

## ﴿ مرتبې په پام کې ونيسئ! ﴾

٦٦)ـ امام مسلم رحمه الله د خپل صحيح مسلم په پيل کې دا حديث راوړی : (عَنْ عَائِشَةَ رضى الله عنها، أَنَّهَا قَالَتْ:أَمَرَنَا رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم أَنْ نُنَزِّلَ النَّاسَ مَنَازِلَهُمْ) [1]

ژباړه : عائشه رضی الله عنها وايي موږ ته رسول الله صلى الله عليه وسلم امر کړی چې د خلکو درناوی (د هغوی د شخصيت، درنښت) او مرتبو پر بنسټ وکړو.

دې حديث کې مسلمانو ورونو او خويندو ته لارښوونه شوې چې د هر چا د شخصيت، پت، ايمان، تقوی، ټولنيزو او اخلاقي ارزښتونو ته په پام د هغوی درناوی او عزت پالنه وکړئ.

## ﴿ اصيله فطرتي بڼه ﴾

٦٧)ـ (عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضى الله عنهما ، قَالَ: لَعَنَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم، الْمُتَشَبِّهِينَ مِنَ الرِّجَالِ بِالنِّسَاءِ، وَالْمُتَشَبِّهَاتِ مِنَ النِّسَاءِ بِالرِّجَالِ) [2]

ژباړه: ابن عباس رضی الله عنهما د حديث راوي دی، رسول الله صلى الله عليه وسلم له نارينه و ښځه پر هغو لعنت ويلی دی چې له ښځمنو

---

[1] صحيح مسلم ١/٦

[2] مسند أحمد ط الرسالة ٥/٢٤٣

ketabton.com - The Digital Library



**سره ځان ورته جوړوي او پر هغو ښځمنو يې لعنت ويلی دی چې ځانونه نارينه و ته ورته جوړوي.**

**د اسلامي اخلاقو سپارښتنه داده چې هر مؤمن نارينه او مؤمنه ښځمنه دې په خپله اره ( اصلي) بڼه ځان سينګار او ښکاره کړي او دا د يو انسان اصلي فطرتي هويت هم دی، نارينه چې ځان له ښځمنو سره مشابه جوړوي او ښځمنه چې ځان له نارينه و سره مشابه جوړوي په حقيقت کې پر خپله اصيله ازاده فطرتي بڼه ملنډې وهي.**

**٦٨)ـ** (عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضی الله عنه، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم، لَعَنَ الرَّجُلَ يَلْبَسُ لُبْسَةَ الْمَرْأَةِ، وَالْمَرْأَةَ تَلْبَسُ لُبْسَةَ الرَّجُلِ) [1]

**ژباړه: ابو هريره رضی الله عنه د حديث راوي دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم لعنت ويلی، پر هغه سړي، چې د ښځو په څېر جامې اغوندي او پر هغه ښځه چې د سړيو جامې اغوندي.**

**هغه مهال چې ټولنه د اسلام پر نور ځل بلانده وه، د شريعت حکمونه پلي او د عمل په نړۍ کې غځېدلي و، هره خوا د قران او سنت زرينو پلوشو پوښلې وه، دا ستونزه نه وه چې نارينه ځان ښځمنې ته ورته او ښځمنه دې ځان نارينه ته ورته جوړه کړي، اوس مهال چې د اسلام درنو او د حيا پر ګاڼه پسوللو لاربنوونو ته پام نه کېږي، ليدل کېږي چې پېغلو او په ټوله کې ډېری ښځمنو د نارينه و بڼه خپله کړې، خپل پوښاک کړه، وړه هلکانو او سړيو ته ورته جوړوي د شرعي حجاب او نورو محرمو ځايونو او غړيو پرده کې ساتلو ته ارزښت نه ورکوي.**

---

**[1] مسند أحمد ط الرسالة ١٤/٦١**

ketabton.com - The Digital Library



د سرونو وېښتان چې شريعت کې د ښځمنو عورت دی، پام نه کوي، ډېر ځلې يې مړوندونه او لېچې بربنډې کړې وي، داسې خبرې، کړنې او حرکتونه سرته رسوي، ته به وا چې دا کوم زلمی دی.

ها خوا يو شمېر زلميان هم په پوښاک، خبرو، سينگار او کړو وړو کې له غربي ماډلو پېغلو کم نه دي، د سرو زرو هارونه به يې په غاړو کې ځړولي وي او پر بربنډو سينو به يې اوېزان کړی وي، د سرونو وېښتان به يې د پېغلو په څېر اوږده، څڼې او زلفې به يې راخورې کړې وي.

ډېر ځلې ځينو هلکانو ځانونه له ښځمنو سره داسې ورته برابر کړی وي چې د هلك او جلۍ توپير نه کېږي.

اسلام له داسې کړنو منع کړی او دا ډول نارينه او ښځمنې يې د الله رحمت نه د شړل شويو بدرنگو څېرو په ليکلړ کې شاملې کړي په دې هيله چې گرانې مسلمانې خويندې به مې د اسلام اصيل زرين اصل او ادب ته په بشپړه پاملرنه ځانونه په شرعي پوښاک وپوښي او له نارينه و سره د ځان ورته جوړولو به ډډه وکړي.

٦٩)ـ امام مسلم رحمه الله د ابو بردة رضی الله عنه په روايت حديث نقل کړی، دی وايي : ابو موسی سخت دردمن شوی و، پر ده بې هوښي راغلې وه دا په داسې حال کې چې سر يې د خپلې کورنۍ د يوې ښځمنې په غېږ کې ايښی و د کورنۍ يوې مېرمن د ده د غم او دردمندۍ له امله چيغې کړې، هغه شېبه ده هغې ته د څه ويلو طاقت نه لره، کله چې رابېدار شو ويې ويل : زه له هغه څه نه بېزاره يم چې له څه نه رسول الله صلی الله عليه وسلم بېزاري ښکاره کړې وه، ځکه رسول الله صلی الله عليه وسلم له هغې ښځمنې نه بېزاري ښکاره کړې

ketabton.com - The Digital Library



**وه چې د مصيبت په مهال غږ پورته کوي (چيغې وهي) خپل وېښتان شکوي او يا خپلې جامې څيرې کوي.** (1)

**۷۰)ـ اسامه بن زيد رضی الله عنه : موږ له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره ناست و، له ګرانقدره لورګانو څخه يې يوې خپل کور ته وباله چې خبر يې ورکاوه، د هغې کوچنی نازولی د مرګ په شېبو کې و، رسول الله خبر راوړونکي ته وويل : لاړ شه، زما لور ته ووايه :** (أَنَّ لِلَّهِ مَا أَخَذَ وَلَهُ مَا أَعْطَى، وَكُلُّ شَيْءٍ عِنْدَهُ بِأَجَلٍ مُسَمًّى، فَلْتَصْبِرْ وَلْتَحْتَسِبْ) (2)
**استازی بيا راغی ، ويې ويل : هغې سوګند ياد کړی چې هرو مرو به رسول الله صلی الله عليه وسلم راځي.**
**رسول الله صلی الله عليه وسلم پاڅېد، سعد بن عُبادة رضی الله عنه او سعد بن جبل رضی الله عنهما هم ورسره پاڅېدل او د هغو دواړو په ملګرتيا ورغلل، هغه ماشوم ورته په داسې حال کې راپورته کړای شو چې د زنکدن شېبې يې پيل وې او غرغره يې راپارېدلې وه، ياني روح يې مرۍ ته رسېدلی و.**
**رسول الله صلی الله عليه وسلم چې هغه وليد له سترګو يې اوښکې تويې شوې.**
**سعد رضی الله عنه ورته وويل : دا څه دي ای د الله رسوله؟**
**رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل :** (هَذِهِ رَحْمَةٌ جَعَلَهَا اللهُ فِي قُلُوبِ عِبَادِهِ، وَإِنَّمَا يَرْحَمُ اللهُ مِنْ عِبَادِهِ الرُّحَمَاءَ) (3)

---

[1] **صحيح مسلم**

[2] **(صحيح البخاري ۹/۱۱۵**

[3] مسند أحمد ط الرسالة ۳٦/۱۲۴

ketabton.com - The Digital Library



**ژباړه: دا رحمت دی چې الله تعالی د خپلو بنده ګانو په زړونو کې پیدا کړی او یقیناً الله تعالی له خپلو بنده ګانو څخه پر زړه سوانده او مهربانو کسانو رحم کوي.**

## ﴿ زړه چې درمن شي، سترګې ژاړي ﴾

**۷۱)ـ انس رضی الله عنه وايي: د رسول الله صلی الله علیه وسلم زوی ابراهیم ناورغ و او په ډېرې سختۍ یې ساه اخیستله، د رحمت نبي له سترګو اوښکې تویې شوې، عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه ورته وویل : ای د الله رسوله! تاسو هم؟!**

**د رحمت نبي وویل :** (يَا ابْنَ عَوْفٍ إِنَّهَا رَحْمَةٌ، ثُمَّ أَتْبَعَهَا بِأُخْرَى، فَقَالَ صلى الله عليه وسلم: إِنَّ العَيْنَ تَدْمَعُ، وَالقَلْبَ يَحْزَنُ، وَلاَ نَقُولُ إِلَّا مَا يَرْضَى رَبُّنَا، وَإِنَّا بِفِرَاقِكَ يَا إِبْرَاهِيمُ لَمَحْزُونُونَ) [1]

**ژباړه: ای د عوف زویه! دا رحمت دی بیا یې ورپسې بله دا خبره وکړه ویې ویل : له سترګو اوښکې بهېږي او زړه غمجن کېږي او نه وایو موږ مګر هغه څه، چې زموږ رب پرې راضي کېږي.**

**ای ابراهیمه! موږ ستا پر جدایۍ ډېر خواشیني او غمجن یو.**

## ﴿ مسلمانه مېرمن دې ویرګره نه وي ﴾

**۷۲)ـ** (عَن أَبِي هُرَيرة رضى الله عنه، عَن النَّبيّ صلى الله عليه وسلم قال: النَّائِحَةُ إِذَا لَمْ تَتُبْ قَبْلَ مَوْتِهَا، تُقَامُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَعَلَيْهَا سِرْبَالٌ مِنْ قَطِرَانٍ، وَدِرْعٌ مِنْ جَرَبٍ) [2]

---

[1] صحيح البخاري ٢/٨٣

[2] **صحيح مسلم ٢/٦٤٤ ــ سلسلة الاحاديث الصحيحة ج٤**

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: ابو هريره رضی الله عنه د حديث راوي دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: ويرګره مېرمن چې له مرګ وړاندې توبه ونه باسي، د قيامت په ورځ به داسې حال کې را پاڅېږي چې پر تن به يې د نانزړو او خاربښت کميسونه وي.
محدثينو ليکلي: چې تعبير په کميسونو سره شوی يانې داسې جامې به لري چې له يو پلوه به ددې ښځمنې بدن پمن وي، خاربښت به کوي او له بل پلوه به د نانزړو کميس ورواغوستل شي.
حکمت په کې دا دی چې نانزړه ژر اور اخلي، نانزړه هغه دوا ده چې پمن او خاربښتي اوښان پرې غوړولی شي.

# ﴿هغه کور چې شيطان ترې دوه ځلې ناهيلی وتلی﴾

په مړي وير او ژړا هغه کړنه ده چې اسلام حرامه ګرځولې او ددې حرمت يې په ډېرو کلکو او کره نصوصو سره ياد کړی، دا ځکه چې په دې کې انساني طاقت ته زيان رسيږي د رحمن ذات پرېکړې ته له غاړې ايښودلو مخالفت کول دې بې لارۍ ته دروازه پرانيستل دي او د شيطان لپارهستره فتنه ده او دې خبرو ته محمد په هغه حديث کې اشاره کړې چې امام مسلم رحمه الله راوړی:

۷۳)ـ اُم سلمة رضی الله عنها ويلی : کله چې ابو سلمة وفات شو، ما ويل غريب او مسافر د غربت او مسافرۍ په وطن کې مړ شو، دومره وير به پرې کوم چې خلک يې کيسې وکړي، ما پر هغه د ژړا لپاره ځان تيار وه، چې هغه مهال د مدينې له کليو نه يوه مېرمن ددې لپاره زموږ کور ته راغله، چې په وير او ستاينو کې يې زما ملاتړې شي، هغه مېرمن

ketabton.com - The Digital Library



**رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په مخه ورغله، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل : (أَتُرِيدِيَ أَنْ تُدْخِلِي الشَّيْطَانَ بَيْتًا أَخْرَجَهُ اللهُ مِنْهُ؟ مَرَّتَيْنِ، فَكَفَفْتُ عَنِ الْبُكَاءِ فَلَمْ أَبْكِ)** [1]

**ژباړه : ته غواړې چې شیطان بیا هغه کور ته راننوځې چې الله تعالی ترې دوه ځلې ویستلی؟**

**اُم سلمة رضی الله عنها وایي : نو زه له ژړا نه منع شوم او پر ابو سلمة مې ونه ژړل.**

**پورته حدیث کې دا یادونه شوې چې شیطان دوه ځلې د ابو سلمة له کور نه وتلی.**

**لومړی: هغه مهال چې ابو سلمة ایمان راوړ د هغه د کورنۍ ځینو خلکو شور او غوغا جوړه کړه، بدې دعاوې یې پیل کړې، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل : ځانونو ته مو له خیر پرته نورې دعاګانې مه کوئ، ځکه ملائکې ستاسو پر دعا امین وایي، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم ابو سلمة ته دعا وکړه.**

**دویم ځل : هغه مهال چې اُم سلمة رضی الله عنها ته د هغه نفس مشوره ورکړه چې پر ابو سلمة تاریخي ژړا وکړه، بیا اُم سلمه له ژړا نه ځان وساته.**

**ګرانقدرو خویندو!**

**په دې هیله چې د سترې مسلمانې مېرمن اُم سلمة رضی الله عنها په خېر به د ناروا عمل په وړاندې د مخالفت روحیه پیاوړې کړئ، د ژوند په هره چاره کې به د خپل وس مطابق جهادي روحیه ژوندۍ ساتئ، باطلو او ناروا کړنو ته به نه تسلیمېږئ، ځکه مسلمانې مېرمنې همت**

---

[1] صحیح مسلم ۲/۶۳۵

ketabton.com - The Digital Library



لوړوي په پرېکنده هوډ د ايمان له وسلې سره د عمل ډګر ته وړاندې کېږي او د هر هغه وينا او کړنې په وړاندې مخالفت ښکاره کوي چې د اسلام په دين کې اصل ثبوت او ځای ونه لري.

## ﴿ هره اورېدل شوې خبره مه خپروئ! ﴾

۷۴)ـ (عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم: كَفَى بِالْمَرْءِ كَذِبًا أَنْ يُحَدِّثَ بِكُلِّ مَا سَمِعَ) [1]

ژباړه:ابو هريره رضی الله عنه د حديث راوي دی، صادق الامين پيغمبر محمد صلی الله عليه وسلم ويلي : سړي ته همدومره دورغ بس دي چې هره اورېدل شوې خبره بيانوي.

د اسلام سپېڅلی دين مسلمانې مېرمنې ته دنده سپارلې، چې هره اورېدل شوې خبره، چې دليل، ثبوت ونه لري او پر يقين نه وي ولاړه، ونه کړي او نه يې نورو ته خپره او ورسوي.

په ټوليزه توګه د ښځمنو په ناستو، جرګو او مرکو کې د خبرو لپاره ځانګړی معيار او دليل نه وي، يوازې په ماويلو او تاويلو يې بنډار ګرم کړی وي، ډېرې خبرې يې بې ثبوته او بې دليله وي او يوازې په اټکل او ګومان څرخېږي.

اسلام دا ډول خبرې چې صحت او ثبوت يې يقيني نه وي، حرام او دروغ شمېرلي.

ښايي نارينه او ښځمنې په ګډه له دا ډول خبرو ځان وساتي.

---

[1] صحيح مسلم (1/ 10)

ketabton.com - The Digital Library



۷۵)ـ (عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضی الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم أُتِيَ بِلَبَنٍ قَدْ شِيبَ بِمَاءٍ، وَعَنْ يَمِينِهِ أَعْرَابِيٌّ، وَعَنْ شِمَالِهِ أَبُو بَكْرٍ، فَشَرِبَ ثُمَّ أَعْطَى الأَعْرَابِيَّ، وَقَالَ: «الأَيْمَنَ فَالأَيْمَنَ» [1]

انس رضی الله عنه وايي : د اخلاقو لومړنی معلم محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم ته چا د ښځلو لپاره شيدې راوړې چې د کوهي څه اوبه ورکې ګډې شوې وې، ښي لاس ته يې يو کليوال (بانډېڅي) ناست و او کيڼ لور ته يې (ګران قدره د هجرت د لارې ملګری) ابوبکر صديق رضی الله عنه ناست و، رسول الله صلی الله علیه وسلم چې شيدي وڅښلې، بيا يې کليوال ته ورکړې او ويې ويل : ياڼې له ښي طرفه يې.

۷۷)ـ نبي عليه السلام اُم ورقه ته امر کړی و چې د خپلې کورنۍ غړيو ته دې امامت وکړي او له ښي طرف نه يې پيل کړه. [2]

اسلامي عالمانو ليکلي : چې ښځه د ښځمنو لپاره امامت کولی شي، کله چې د قران ښه لوستونکې، پرهېزګاره او نېکو کاره وي، مګر د ښځمنو امامت به ښځمنو لپاره په کور کې وي نه په جومات کې، امامه به د ښځو منځ کې ودرېږي او په شرعي نبوي طريقه به نورو ښځو ته په کور کې لمونځ (امامت) کوي او په دې کې کوم ممانعت نشته.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم ګرانو مېرمنو، اُم سلمة رضی الله عنها او عائشې رضی الله عنها هم ځينو وختونو کې ځينو مېرمنو ته امامت کړی و.

[1] صحيح البخاري (7/ 111) سلسلة الاحاديث الصحيحة ۴ج-۳۷۳ مخ

[2] فتاوی المرأة المسلمة بيروت چاپ ۴۶۰مخ

ketabton.com - The Digital Library



## ﴿ مسلمانې مېرمنې جوماتونو ته تللی شي؟! ﴾

۷۷)ـ (عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رضى الله عنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم: لاَ تَمْنَعُوا إِمَاءَ اللَّهِ مَسَاجِدَ اللَّهِ) [1]

**ژباړه: ابن عمر رضی الله عنه د حديث راوي دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: د الله تعالی وينځې له جوماتونو څخه مه منع کوئ.**

**همدارنګه ابو داود رحمه الله حديث نقل کړی، رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي:** (لَاتَمْنَعُوْا نِسَأَكُمُ الْمَسَاجِدَ، وَبُيُوتُهُنَّ خَيْرٌلَهُنَ). [2]

**ژباړه: خپلې مېرمنې له جوماتونو څخه مه منع کوئ او د دوی کورونه د دوی د لمانځه لپاره غوره دي.**

**کله چې مسلمانه مېرمن ټولو شرعي ادابو او مقرراتو ته پاملرنه کوي، خاوند يې اجازه ورکوي، د خوشبويۍ لګولو پرته په شرعي حجاب کې پوښلې وي بيا جومات ته د لمانځه لپاره د تللو جواز شته، مګر د نبوي حديث له وروستۍ جملې معلومېږي چې د ښځمنو لپاره لمونځ په کور کې ډېر غوره دی.**

## ﴿ پېنځه ډالۍ ﴾

**اسلام د انسانۍ دين دی، د کائناتو تر ټولو ښکلي بشر محمد صلی الله عليه وسلم هم د مينې او انسانۍ پيغامونه خواره کړي او د هغه پيغامونو کې اجتماعيت (ټولنيز توب) دی ځکه هغه د** (رَحْمَةً لِّلْعَالَمِينَ) **وياړلی تاج لري، پر همدې ليکه مسلمانې مېرمنې هم خبرولی شي چې د دين له انسانياو ګټې پورته کړي او د توحيد ښکلې کلمې ولولي چې د قران لوستنې بدله کې ورته حساب شي.**

---

[1] صحيح البخاري ۲/۶

[2] الشخصية المراة المسلمة ۱۹ مخ

ketabton.com - The Digital Library



۷۸)ـ : (عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى رضى الله عنهما ، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم فَقَالَ: إِنِّي لَا أَسْتَطِيعُ أَنْ آخُذَ مِنَ الْقُرْآنِ شَيْئًا فَعَلِّمْنِي مَا يُجْزِئُنِي مِنْهُ، قَالَ: قُلْ: سُبْحَانَ اللَّهِ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَاللَّهُ أَكْبَرُ، وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيمِ) [1]

**ژباړه : عبدالله بن ابي اوفى رضى الله عنهما وايي: يو سړى رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغى، ويې ويل: زه ددې وړتيا نه لرم چې د قران څه برخه حفظ او ياده کړم، داسې څه وظيفه يا کلمات راته وښايه چې د قران کريم د لوستلو پر ځاى راته مجرى او حساب شي!؟**

**رسول الله ورته وويل : دا کلمې وايه:**

(سُبْحَانَ اللَّهِ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَاللَّهُ أَكْبَرُ، وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيمِ).

## ﴿ د ځمکې له کومې ګاڼې سره مينه لرئ؟! ﴾

۷۹)ـ (عَنْ أَبِي مُوسَى الأَشْعَرِيِّ رضى الله عنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم: مَثَلُ الْمُؤْمِنِ الَّذِي يَقْرَأُ الْقُرْآنَ كَمَثَلِ الأُتْرُجَّةِ، رِيحُهَا طَيِّبٌ وَطَعْمُهَا طَيِّبٌ، وَمَثَلُ الْمُؤْمِنِ الَّذِي لاَ يَقْرَأُ الْقُرْآنَ كَمَثَلِ التَّمْرَةِ، لاَ رِيحَ لَهَا وَطَعْمُهَا حُلْوٌ، وَمَثَلُ الْمُنَافِقِ الَّذِي يَقْرَأُ الْقُرْآنَ مَثَلُ الرَّيْحَانَةِ، رِيحُهَا طَيِّبٌ وَطَعْمُهَا مُرٌّ، وَمَثَلُ الْمُنَافِقِ الَّذِي لاَ يَقْرَأُ الْقُرْآنَ كَمَثَلِ الْحَنْظَلَةِ، لَيْسَ لَهَا رِيحٌ وَطَعْمُهَا مُرٌّ) [2]

---

[1] سنن أبي داود ۱/۲۲۰

[2] صحيح البخاري(7/ 77).

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: ابو موسى الاشعري رضى الله عنه د حديث راوي دى، رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: د قرآن لوستونكي مثال د ترنج په څېر دى، چې ښكلې بوى لري او خوند يې هم خوږ دى.

او د هغه مومن مثال چې قرآن نه لولي د خرما په څېر دى، چې خوږبويي نه لري او خوند يې خوږ دى او د هغه منافق مثال چې قرآن لولي د كشمالي گل په څېر دى، چې ښكلې خوشبويې لري، خو خوند يې تريخ دى.

او مثال د هغه منافق چې قرآن نه لولي، د مړه غوني په څېر دى، چې بوى هم نه لري او خوند يې هم تريخ وي.

اوس؛ نو تاسې په پورتني حديث كې غور وكړئ، چې همدا شېبه له كوم مثال سره برابر ياست.

هو! كه له لومړني مثال سره برابر يئ، مبارك مو شه! په غوره كسانو كې ياست، په هغو كسانو كې ياست، چې قرآن كريم به يې د قيامت په ورځ شفاعت كوي او د قرآن شفاعت به مو په برخه كې قبلېږي.

هڅه وكړئ!

خپله خوږبويي لا زياته كړئ، چې نورو ته مو د خوږبويۍ خوږې وږمې ورسېږي او د قرآن په وسيله مو د ايمان مېوه لا زياته خوږه او زړه راښكونكې شي.

كه چېرې ځان په دويمه ډله كې شمېرئ، همدا شېبه پاڅېږئ اودس وكړئ او د قرآن كريم تلاوت په مينه پيل كړئ، چې د ايمان له خوږو سره مو قرآني خوږبويي گډه شي او د لوستلو له بركته يې د الله تعالى خوښ بنده گان شئ.

زه دا باور لرم، چې تاسې به د ايمان او عقيدې له غوښتنو سره سم لومړى د لومړني مثال په مانيزه ښكلا ښكلي يئ او كه داسې نه وي، نو

ketabton.com - The Digital Library



حتماً به د دويم مثال حقيقت ته ژمن يئ او دې ته به مو ملا تړلې وي، چې له خوږو او خوږبويې دواړو يې برخمن شئ.
په دې هيله، چې د لومړي مثال په حقيقت او معنويت به مو دومره زړه تړلی وي، چې له درېيمو او څلورمو بېلګو څخه مو د اوږد واټن په کچه ځان لرې ساتلی وي.

# ﴿وېښتان هم ناز غواړي!﴾

۸۰)ـ ابو قتاده رضی الله عنه د رحمت نبي صلی الله عليه وسلم نه پوښتنه وکړه، ويې ويل : إِنَّ لِي جُمَّةً. أَفَأُرَجلُهَا؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم: نَعَمْ. وَأَكْرِمْهَا. [1]

ژباړه: ای د الله رسوله صلی الله عليه وسلم!
زه جمة (د سر هغه وېښتان چې پر اوګو پراته وي) لرم، ږمنځولی يې شم؟
رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل : هوکی؛ عزت يې کوه.
راوي وايي: بيا به ابو قتاده رضی الله عنه ډېر ځلې په ورځ کې دوه ځلې وېښتان غوړول، ددې له امله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته ويلي و : ( أَكْرِمْهَا ) درناوی يې کوه.

د رسول الله صلی الله عليه وسلم پيغام ته په ټول درناوي، مسلمانه مېرمن کولی شي چې د خپل ټول نظافت ساتنې په اړخ کې د خپلو وېښتانو، نظافت، غوړولو او ږمنځولو ته هم پاملرنه وکړي.
د وېښتانو درناوی او په شرعي طريقې سره د وېښتانو ساتل او پالل نبوي سنت دی.

[1] موطأ مالك ت الأعظمي ۵/۱۳۸۴

ketabton.com - The Digital Library



**يادونه: (جُمَّةً) د سر هغه وېښتان چې پر اوګو پراته وي) يانې څنې يې تر اوګو پورې وي.** [1]

٨١)ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، رضى الله عنه، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ: مَنْ كَانَ لَهُ شَعْرٌ فَلْيُكْرِمْهُ [2]

**ژباړه: ابو هريرة رضى الله عنه د حديث راوي دى، رسول الله صلى الله عليه وسلم وايي: څوک چې وېښتان لري، د خپلو وېښتانو درناوى دې وکړي.**

**په اسلامي ذوق کې د وېښتانو پاکوالى، ږمنځول، خوږبويه کول، د شکل او څېرې ښکلا سمبالول، د وېښتانو درناوى بلل شوى دى.**

**رسول الله صلى الله عليه وسلم دا نه خوښوله، چې يو سړى دې د خپل سر يا ږيرې وېښتان داسې ګډوډ او ببر پرېږدي، چې ليدونکو ته د شکل او وېښتانو د ښکلا او نظافت په نه مراعاتولو د شيطان په څېر ښکاري.**

## ﴿ سپين په تور مه بدلوئ! ﴾

**جابر رضى الله عنه وېلي : د مکې د فتحې په ورځ ابو قحافه رضى الله عنه د ابوبکر رضى الله عنه پلار راوستلى شو چې سر او ږيره يې د وښو په څېر تک سپين و.**

٨٢)ـ **محمد مصطفى صلى الله عليه وسلم وويل :** (غَيِّرُوا هَذَا الشَّيْبَ، وَجَنِّبُوهُ السَّوَادَ) [3]

[1] النهايه فى غريب الحديث والاثر ١ج- ٢٨٩ مخ
[2] سنن أبي داود (4/ 76).
[3] مسند أحمد مخرجا ٢٣/١١

ketabton.com - The Digital Library



**ژباړه: سپينو وېښتانو ته مو رنګ بدل کړئ او د توروالي څخه يې ځان وساتئ.**

**وېښتانو ته تور رنګ ورکول منع دي او ددې حديث نه يې په څرګنده حرمت (حرام والی) معلومېږي، په نورو رنګونو يې رنګول د جواز په درجه کې دي مګر که مسلمانه مېرمن د وېښتانو په رنګولو کې هم د کافرو، مشرکو او بدکاره ښځو سره ځان ورته جوړوي بيا هم حرام دي، ځکه (مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ[1] ) څوک چې له يو قوم سره ځان ورته جوړوي، دی له هماغو څخه دی.[2]**

**ستر عالم شيخ محمد صالح العثيمين رحمه الله ويلي : هغه کس چې سپينو وېښتانو ته تور رنګ ورکوي ګوا چې له الله تعالی سره مقابله کوي، په پيدايښت او جوړښت کې د هغه له سنت او طريقې سره مقابله کوي، ځکه د ځوانۍ پر مهال وېښتان تور وي، کله چې د بوډاوالي يا د بل کوم لامل له وجه سپين شي، دی هڅه کوي چې دا حالت د ځوانۍ حالت ته وروګرځوي، ځکه هغه مهال يې وېښتان تور و او دا هڅه د الله تعالی په (خلق) جوړښت کې د تغير او بدلون په مانا ده او ددې په څنګ کې دا خبره هم ډېر ژر ښکاره کېږي چې د غه سړي يا مېرمن وېښتانو ته تور رنګ ورکړی، ځکه د وېښتانو بېخونه يې ژر سپينېږي.[3]**

---

[1] سنن أبي داود (4/ 44)

[2] شخصية المرأة المسلمة/ فتاوى ابن عثيمين رحمه الله ۹۴۲

[3] **فتاوى المرأة المسلمة ۹۴۲**

ketabton.com - The Digital Library



# ﴿ له تا سره لمونځ مې خوښېږي ﴾

**۸۳)ـ اُم حميد رضی الله عنها د ابو حميد الساعد رضی الله عنه مېرمن رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغله ويې ويل :**

(يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي أُحِبُّ الصَّلَاةَ مَعَكَ، قَالَ: «قَدْ عَلِمْتُ أَنَّكِ تُحِبِّينَ الصَّلَاةَ مَعِي، وَصَلَاتُكِ فِي بَيْتِكِ خَيْرٌ لَكِ مِنْ صَلَاتِكِ فِي حُجْرَتِكِ، وَصَلَاتُكِ فِي حُجْرَتِكِ خَيْرٌ مِنْ صَلَاتِكِ فِي دَارِكِ، وَصَلَاتُكِ فِي دَارِكِ خَيْرٌ لَكِ مِنْ صَلَاتِكِ فِي مَسْجِدِ قَوْمِكِ، وَصَلَاتُكِ فِي مَسْجِدِ قَوْمِكِ خَيْرٌ لَكِ مِنْ صَلَاتِكِ فِي مَسْجِدِي) [1]

**ژباړه: ای د الله رسوله! زما له تا سره يو ځای لمونځ کول خوښېږي.**

**رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل : زه پوهېږم چې ستا له ما سره يو ځای لمونځ خوښېږي، مگر ستا لمونځ ستا په کوټه کې غوره دی، ستا د لمونځ نه ستا حجره کې او لمونځ ستا په حجره (کوټه) کې غوره دی، ستا له هغه لمونځ نه چې د کور په حويلۍ کې يې کوې او لمونځ ستا په دار (حويلۍ) کې غوره دی، ستا د هغه لمانځه نه چې د خپل قوم په جومات کې وي غوره دی، ستا د هغه لمانځه نه چې زما په جومات کې يې کوې.**

**۸۴)ـ** (عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضی الله عنهما، قَالَ: خَطَّ رَسُولُ اللَّهِ صلی الله عليه وسلم فِي الْأَرْضِ خُطُوطًا أَرْبَعَةً، قَالَ: أَتَدْرُونَ مَا هَذَا؟ ، قَالُوا: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَفْضَلُ نِسَاءِ أَهْلِ الْجَنَّةِ خَدِيجَةُ بِنْتِ خُوَيْلِدٍ، وَفَاطِمَةُ بِنْتُ مُحَمَّدٍ، وَمَرْيَمُ بِنْتُ عِمْرَانَ، وَآسِيَةُ بِنْتُ مُزَاحِمٍ امْرَأَةُ فِرْعَوْنَ) [2]

---

[1] مسند أحمد مخرجا ۴۵/۳۷

[2] صحيح ابن حبان مخرجا (15/ 470)/ سلسلة الاحاديث الصحيحة۴ج ۱۳ مخ

ketabton.com - The Digital Library



**ژباړه: ابن عباس رضی الله عنهما وایي، رسول الله صلی الله علیه وسلم موږ ته په ځمکه کې څلور خطونه راښکل، بیا یې وویل: پوهېږئ دا څه دي؟**

**صحابه کرامو وویل: الله او د هغه رسول ښه پوهېږي.**

**نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: له اهل جنت څخه غوره مېرمنې خدیجه د خویلد لور، فاطمه د محمد لور، مریم د عمران لور او اسیه د مزاحم لور او د فرعون مېرمن.**

**۸۵)ـ** (عَنْ عُرْوَةَ رضی الله عنه، قَالَ: قَالَتْ عَائِشَةُ لِفَاطِمَةَ رضی الله عنها بِنْتِ رَسُولِ اللَّهِ صلی الله علیه وسلم: أَلَا أُبَشِّرُكِ، أَنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صلی الله علیه وسلم يَقُولُ: سَيِّدَاتُ نِسَاءِ أَهْلِ الْجَنَّةِ أَرْبَعٌ: مَرْيَمُ بِنْتُ عِمْرَانَ، وَفَاطِمَةُ بِنْتُ رَسُولِ اللَّهِ صلی الله علیه وسلم، وَخَدِيجَةُ بِنْتُ خُوَيْلِدٍ، وَآسِيَةُ) [1]

**ژباړه: عروه رضی الله عنه د حدیث روایت کړی دی، وایي چې عائشې رضی الله عنها، فاطمې رضی الله عنها ته وویل : ایا زیری در نه کړم؟ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به ویل : د جنتي مېرمنو سردارانې څلور کسانې دي: مریم د عمران لور، فاطمه د محمد لور، خدیجه د خویلد لور او اسیه د مزاحم لور.**

**۸۶)ـ** عَنْ مَعْقِلَ بْنَ يَسَار رضی الله عنه، اَنَ رَسُولُ اللهِ صلی الله علیه وسلم قَالَ: لَأَنْ يُطْعَنَ فِي رَأْسِ أَحَدِكُمْ بِمِخْيَطٍ مِنْ حَدِيدٍ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَمَسَّ امْرَأَةً لَا تَحِلُّ لَهُ. [2]

---

[1] المستدرك على الصحيحين للحاكم (3/ 205)

[2] المعجم الكبير للطبراني ۲۰/۲۱۱

ketabton.com - The Digital Library



**ژباړه: معقل بن يسار رضی الله عنه د حديث راوي دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي : دا چې ستاسو د يو کس په سر کې د اوسپنې مېخ ټک وهل شي، له دې نه غوره دی چې له داسې ښځمنې سره لاس ولګوي چې ده ته حلاله او روا نه وي.**

عَنْ أَبِي أُمَامَةَ رضی الله عنه، عَنْ رَسُولِ اللهِ صلی الله عليه وسلم قَالَ: إِيَّاكُمْ وَالْخَلْوَةَ بِالنِّسَاءِ، وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، مَا خَلَا رَجُلٌ وَامْرَأَةٌ إِلَّا دَخَلَ الشَّيْطَانُ بَيْنَهُمَا، وَلَيَزْحَمُ رَجُلٌ خِنْزِيرًا مُتَلَطِّخًا بِطِينٍ، أَوْ حَمْأَةٍ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَزْحَمَ مَنْكِبِهِ مَنْكِبَ امْرَأَةٍ لَا تَحِلُّ لَهُ) [1]

**ژباړه: ابو امامه رضی الله عنه د حديث راوي دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: له پرديو ښځمنو سره د يو ځای کېدلو نه ځان وساتئ، نه يو ځای کېږي سړی له ښځې سره، مګر شيطان د دوی په منځ کې وي، او چې سړی له داسې خنزير (خوګ) سره ولګېږي، چې پر ختو او چټليو لړلی وي، له دې نه غوره دی چې اوګه يې د داسې ښځې له اوګې سره ولګېږي، چې ده ته روا نه وي.**

**دواړه حديثونه په دې دلالت کوي چې د نامحرمو ښځو سره لاس يا د بدن بل کوم غړی لګول او هم اختلاط (ګډون) بد کار دی.**

## ﴿ سل تسبيح، زر نېکۍ ﴾

**٨٧)ـ** عَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدٍ رضی الله عنه، حَدَّثَنِي أَبِي قَالَ: كُنَّا عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صلی الله عليه وسلم، فَقَالَ: أَيَعْجِزُ أَحَدُكُمْ أَنْ يَكْسِبَ، كُلَّ يَوْمٍ أَلْفَ حَسَنَةٍ؟»

[1] المعجم الكبير للطبراني (8/ 205)

ketabton.com - The Digital Library



فَسَأَلَهُ سَائِلٌ مِنْ جُلَسَائِهِ: كَيْفَ يَكْسِبُ أَحَدُنَا أَلْفَ حَسَنَةٍ؟ قَالَ: «يُسَبِّحُ مِائَةَ تَسْبِيحَةٍ، فَيُكْتَبُ لَهُ أَلْفُ حَسَنَةٍ، أَوْ يُحَطُّ عَنْهُ أَلْفُ خَطِيئَةٍ.

ژباړه :مصعب بن سعد رضی الله عنه له خپل پلار نه روايت کړی هغه ويلي: موږ له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره و ، ويې ويل: ايا ستاسو يو کس دا طاقت لري چې هره ورځ زر(۱۰۰۰) نيکۍ وګټي؟

له ناستو کسانو څخه يو کس پوښتنه وکړه ای د الله رسوله صلی الله عليه وسلم !

څنګه به زموږ يو کس زر (۱۰۰۰) نېکۍ وګټي ؟

رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل : چې سل ځلې تسبېح، (سبحان الله) ووايي زر (۱۰۰۰) نېکۍ ورته ليکل کيږي او يايې زر (۱۰۰۰) ګناهونه بښل کيږي.[1]

## ﴿ په اسلام کې لومړۍ شهيده ﴾

د اسلام د سپېڅلي دين په لومړيو کې د ګوتو په شمېر څو تنو ښاغليو صحابه کرامو د مشرکانو له لورې هر ډول کړاو ته سينې سپر کړې وې، په دې لړ کې د مېړنيو باتورانو په څنګ کې يو شمېر پتمنو غيرتي مېرمنو هم پر خپلو سپېڅليو وينو د خپلو قربانيو او سربښندنو تاريخ وليکه، چې د تاريخ د سوونو پړاوونو له تېرېدلو وروسته اوس هم د هغوی نومونه ژوندي دي.

۸۸)ـ د تاريخ د دې زرينې دورې له نوميالیو څخه يوه هم سمية بنت خياط رضی الله عنها ده، دا د ابي حذيفه وينځه او د عمار بن ياسر رضی الله عنه مور وه، د لومړنيو مسلمانانو په کتار کې يې اوم مقام

[1] صحيح مسلم 4/ 2073

ketabton.com - The Digital Library



درلوده، سمية رضی الله عنها ډېره زړه او کمزورې وه. د سمية رضی الله عنها خاوند ياسر رضی الله عنه او د هغه زوی عمار رضی الله عنه درې واړه هغه کسان وو، چې اسلام يې د پيل په سختو او ستونزمنو شېبو کې قبول کړی و، دې مجاهدې کورنۍ ته د مشرکانو له خوا سخت عذابونه ورکول کېده، رسول الله صلی الله عليه وسلمبه پر دوی ور تېرېده، دوی به يې د ابطح په سيمه کې د مکې سختې گرمۍ ته په ځمکه څملولي و او په رنگارنگ عذابونو به کړول کېدل، رسول الله صلی الله عليه وسلم به پر دوی ډېر دردمن کېده، خو له لاسه يې نه و پوره، دوی ته به يې ويل:(صبراً يا آل ياسر، موعدکم الجنة) د ياسر کورنۍ! صبر کوئ، ستاسې ځای جنت دی.

امام مجاهد رحمه الله ويلي: رسول الله صلی الله عليه وسلم، ابوبکر الصديق، بلال بن رباح، خباب، صهيب رومي، عمار رضی الله تعالی عنهم او

سمية رضی الله عنها اوه لومړني هغه کسان دي، چې خپل اسلام يې ښکاره کړی و.

رسول الله صلی الله عليه وسلماو ابوبکرالصديق رضی الله عنه خو د خپل قوم له لورې د اسلام دين ته له بلنې او خپراوي منع کېدل او دې نورو ته به د اوسپنې زغرې وراغوستل کېدلې او بيا به يې د مکې مکرمې گرم لمر ته څملول.

ابوجهل لعين د عمار رضی الله عنه گرانه مور په شرمگاه کې په نېزه ووهله، چې له امله يې ام عمارة رضی الله عنها د شهادت جام نوش کړ.

د صحابه وو د تاريخ ليکوال او محدثينو په اتفاقي ډول دا خبره کړې، چې سمية رضی الله عنها په اسلام کې لومړنۍ شهيده مېرمن ده، کله چې ابوجهل د بدر په ورځ ووژل شو، رسول الله صلی الله عليه وسلم

ketabton.com - The Digital Library



عمار رضى الله عنه ته وويل:(الله تعالى ستا د شهيدې مور قاتل وواژه)[1].

# ﴿ارایشگرې دې ی‌ې هرو مرو ولولي!﴾

**۸۹)ـ** (عَنْ عَبْدِاللَّهِ رضى الله عنه، قَالَ: لَعَنَ اللَّهُ الْوَاشِمَاتِ، وَالْمُسْتَوْشِمَاتِ، وَالْمُتَنَمِّصَاتِ، وَالْمُتَفَلِّجَاتِ لِلْحُسْنِ الْمُغَيِّرَاتِ خَلْقَ اللَّهِ) [2]

**ژباړه: عبدالله بن مسعود رضى الله عنه د حديث راوي دى، لعنت د الله دى پر هغو ښځو چې خالونه لګوي او پر هغو چې ترېنه د خالونو د لګولو غوښتنه کېږي، پر هغوى چې د وروځو وېښتان وباسي او هغوى چې د وېښتانو د ويستلو غوښتنه ترېنه کېږي او پر هغوى چې د حسن او ډول لپاره غاښونه ازادوي او د الله تعالى په جوړښت کې تغير او بدلون راولي.**

**راوي وايي: دا حديث د بني اسد قبيلې يوې مېرمنې ته ورسېد چې (اُم يعقوب) نومېده او قران به يې هم لوسته، ابن مسعود رضى الله عنه ته ورغله ورته يې وويل : دا کوم حديث دى چې ستا له لورې ماته رسېدلى؟ چې تا پر خال لګوونکو، هغوى چې د خال لګولو غوښتنه ترېنه کېږي، د وروځو د وېښتانو په ويستونکو او هغوى چې دا غوښتنه ترېنه کېږي، د غاښونو د حسن لپاره پر ازادوونکو، پر هغوى چې د الله تعالى جوړښت ته تغير ورکوونکې دي، لعنت ويلى؟**

---

[1] **الاصابة فى تميز الصحابة، ۲۵۴۲.**

[2] سنن الدارمي ۳/۱۷۳۱

ketabton.com - The Digital Library



عبدالله رضی الله عنه ورته وويل : څه دليل او پلمه ده زما لپاره چې زه به پر هغه چا لعنت نه وايم، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم پرې لعنت ويلی دی او دا د الله تعالی په کتاب کې دي.
هغه ښځې وويل : ما خو قران کريم لوستی او دا خبره مې پکې نه ده پيدا کړې.
ابن مسعود رضی الله عنه ورته وويل : که چېرې ودې لوست پکې به يې بيا مومې.
الله تعالی ويلي: وَمَآ ءَاتَىٰكُمُ ٱلرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَىٰكُمۡ عَنۡهُ فَٱنتَهُواْۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۖ إِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ۝٧

ژباړه: او هغه څيز چې درکړی دی رسول الله صلی الله عليه وسلم، هغه ونيسئ او هغه څيز چې تاسې يې ترې منع کړي يئ، ترې منع شئ او وېره کوئ له الله نه، يقيناً الله تعالی سخت عذاب ورکوونکی دی.
يانې د قران کريم غوښتنه خو داده چې محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم د څه امر کوي، هغه وکړئ او څه نه مو چې منع کوي، هغه پرېدئ، نو؛ د خالونو لګولو، وروځو ويستلو او غاښونو اره کولو نه محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم منع کړې.
هغې ښځې وويل: زه همدا اوس له دې کارونو څخه ځينې ستا مېرمنه کې وينم.
ابن مسعود رضی الله عنه ورته وويل: ځه لاړه شه ويې ګوره!
کله چې د ابن مسعود رضی الله عنهکور ته ورغله او د هغه مېرمن يې وليده چې له يادو کارونو څخه هېڅ يو پکې نه و، بېرته ابن مسعود رضی الله عنه ته راغله ويې ويل : ستا په مېرمن کې دا هېڅ يو کار نه و.

ketabton.com - The Digital Library



ابن مسعود رضی الله عنهورته وويل : که داسې وی نو زه به له هغې سره هېڅکله يو ځای شوی نه وای.(1)

دې حديث کې د اوس مهال تش په نامه يو شمېر مسلمانو پېغلو او نورو مېرمنو ته د سخت لعنت، تهديد او او رټنې ياد شوی، چې په ډېرې سپين سترګۍ ددې حديث خلاف عمل کوي، له دوی سره، سره هغه ښځې هم د الله تعالی د رحمت نه شړل شوې ښودل شوې چې ارايشګاه لري او د پيسو په بدل کې ناويانو او نورو عامو ښځمنو ته وروځې وباسي، مصنوعي وېښتان لګوي او داسې نورې ناوړه کړنې سرته رسوي.

# ﴿نظر او خيال﴾

۹۰)ـ (عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضی الله عنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلی الله عليه وسلم: الْعَيْنُ حَقٌّ ، وَنَهَى عَنِ الْوَشْمِ) (2)

ژباړه: ابو هريرة رضی الله عنه د حديث راوي دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: نظر حق دی او له خال لګولو نه يې منع کړې.
حديث کې د نظر نه مراد د سترګو لګېدل دي، خلك وايي له نظره شوی دی يانې بدو سترګو وهلی.
يادونه: ددې تفصيل ما د (الشفاء) کتاب کې کړی، لوستونکي کولی شي چې له هغې نه ګټه واخلي.

۹۱)ـ نافع د ابن عمر رضی الله عنه نه روايت کړی، رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: (لَعَنَ اللَّهُ الوَاصِلَةَ وَالْمُسْتَوْصِلَةَ، وَالوَاشِمَةَ وَالْمُسْتَوْشِمَةَ (3)

---

[1] متفق عليه/ المرأة المسلمة ۹۳۰ مخ

[2] مسند أحمد مخرجا ۱۳/۵۴۳

[3] صحيح البخاري۷/۱۶۵

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: الله تعالی پر هغو ښځو لعنت ویلی چې وېښتان لګوي او پر هغو (ارایشګرو) چې د وېښتانو لګولو غوښتنه ترېنه کېږي، پر خال لګوونکې او پر هغې چې د خال لګولو غوښتنه ترېنه کېږي.

مسلمانه مېرمن ښايي نبوي لارښوونو ته په پام خپل سينګار برابر کړي، هسې نه چې د لنډ مهالي سينګار له امله په غبرګو نړيو کې د غبرګو لعنتونو ښکار شي.

## ﴿ د دنيا او اخرت غوره ډالۍ ﴾

۹۲)ـ (عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضى الله عنهما، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ: أَرْبَعٌ مَنْ أُعْطِيَهُنَّ أُعْطِيَ خَيْرَ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ: قَلْبًا شَاكِرًا، وَلِسَانًا ذَاكِرًا، وَبَدَنًا عَلَى الْبَلَاءِ صَابِرًا، وَزَوْجَةً لَا تَبْغِيهِ خَوْنًا فِي نَفْسِهَا وَلَا مَالِهِ) [1]

ژباړه: ابن عباس رضی الله عنهما د حديث راوي دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: څلور څيزونه چې چاته ورکړای شو هغه ته د دنيا او اخرت خير ورکړای شو.

زړه شکر ګذار، ژبه ذکر کوونکې، پر مصيبتونو او ازموينو صبرناک زړه او داسې مېرمن چې په خپل نفس او د خاوند په مال کې د خيانت هڅه نه کوي.

## ﴿ زړه د اخلاقو کان دی! ﴾

زړه د اخلاقو کان دی او د فضايلو سرچينه ده، د ايمان بشپړتيا په نېکو اخلاقو کې ده، حافظ ابن رجب رحمه الله په (جامع العلوم و الحکم) کې ليکلي چې د شريعت ټول اخلاق په دې څلورو حديثونو کې راجمع شوي دي او امام نووي رحمه الله په (الاربعين) کې هم راوړي.

[1] المعجم الكبير للطبراني ١١/١٣٤

ketabton.com - The Digital Library



**دا څلور حديثونه په لاندې ډول دي.**

**۹۳)ـ** (عَنْ عَلِيِّ بْنِ حُسَيْنٍ، عَنْ أَبِيهِ، رضى الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم: مِنْ حُسْنِ إِسْلامِ الْمَرْءِ تَرْكُهُ مَا لَا يَعْنِيهِ) [1]

**ژباړه: على ابن حسين رضى الله عنه د خپل پلار نه روايت کړی، رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: د سړي د اسلام ښايست دادی چې هغه څه پرېدي کوم چې له ده سره مناسب نه وي .**

**دا حديث مسلمان نارينه او ښځينه ته سپارښتنه کوي چې د اسلامي عقيدې، روحيې او ښې خلاف عملونه پرېدئ، چې د اسلام ښايست مو پر ځای پاتې شي او له هغسې کړنو ځان وساتي چې د اسلام سره اړخ نه لگوي، هغه که اخلاقو، عاداتو، خوراک، څښاک او يا د ژوند په نورو چارو کې وي.**

**۹۴)ـ** (عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضى الله عنه، عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم، أَنَّهُ قَالَ: لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى يُحِبَّ لِأَخِيهِ، مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ) [2]

**ژباړه: انس بن مالک رضى الله عنه د حديث راوي دی، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: ستاسو يو کس تر هغې د بشپړ ايمان خاوند نه شي کېدلی، څو چې مسلمان ورور ته هغه څه خوښ نه کړي ،څه چې ځان ته خوښوي.**

**۹۵)ـ** عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم، فَقَالَ: مُرْنِي بِأَمْرٍ، قَالَ: لَا تَغْضَبْ، قَالَ: فَمَرَّ أَوْ فَذَهَبَ، ثُمَّ رَجَعَ، قَالَ: مُرْنِي بِأَمْرٍ، قَالَ: لَا تَغْضَبْ قَالَ: فَرَدَّدَ مِرَارًا كُلُّ ذَلِكَ يَرْجِعُ، فَيَقُولُ: لَا تَغْضَبْ . [1]

---

[1] مسند أحمد ط الرسالة ۳/۲۵۹

[2] مسند أحمد ط الرسالة ۲۰/۱۹۳

ketabton.com - The Digital Library



**ژباړه: ابو هريره رضی الله عنه د حديث راوي دی، وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم ته يو کس راغی، ويې ويل : ای د الله رسوله صلی الله عليه وسلم !**
**په يو څه امر راته وکړه؟**
**رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل : مه غوسه کېږه!**
**راوي وايي: هغه سړی تېر شو يا لاړ، بيا راوګرځېد، بيا يې وويل : په يو څه امر (وصيت) راته وکړه؟**
**رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل : مه غوسه کېږه!**
**راوي وايي: په هر ځل چې دا کس راستنېده، رسول الله صلی الله عليه وسلم به ورته همدا خبره تکراروله چې مه غوسه کېږه!.**

**دا حديث مسلمانو نارينه او ښځينو ته ستر نبوي وصيت دی چې له غوسې څخه ځانونه وساتي، ځکه ډېر ځلې غوسه کېدل انسان ته په دنيا او اخرت کې د تاوان سبب کېږي او کله داسې شي چې د غوسې د نه کنترول له امله مؤمن نارينه او يا ښځينه له خپل دين څخه خلاص شي.**

٩٦)ـ (عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو رضى الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم، قَالَ : وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ، فَلْيَقُلْ خَيْرًا أَوْ لِيَصْمُتْ) [2]
**ژباړه: عبدالله ابن عمر رضی الله عنه د حديث راوي دی رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: څوك چې پر الله تعالی او د اخرت په ورځ ايمان لري، خير دې واي او يا دې چوپ اوسيږي.**

---

[1] مسند أحمد ط الرسالة (16/ 68)

[2] مسند أحمد ط الرسالة ١١/١٩٢

ketabton.com - The Digital Library



په دې حديث کې مؤمنانو نارينه او ښځينه و ته سپارښتنه شوې چې څوک پر الله تعالی او اخرت ايمان لري له بې ځايه خبرو څخه به ځان ساتي، تل به خير وايي، د خير خبرې به کوي او که داسې نه وي، نو؛ چوپتيا به غوره کوي، ځکه له بې ځايه خبرو څخه چوپتيا غوره ده.
لقمان حکيم رحمه الله هم خپل زوی ته په نصيحت کې ويلي و : زويه! که خبرې د سپينو زرو دي نو چوپيتا د سرو زرو ده».
وايي چې د امام ابو حنيفه رحمه الله گوتمه کې هم داسې ليکلي و: (قُلِ الْخَيْرَ اَوِسْكُتْ) (خير وايه يا چوپ اوسېږه).
همدې بنسټونو ته په پام، مسلمانو مېرمنو ته پکار ده چې خپل ډېرى وختونو کې خپلې ژبې د الله تعالی په ذکر، د قران کريم په تلاوت او ښو خبرو لمدې وساتي او له هغو خبرو څخه ډډه وکړي چې د دوی ايمان، عقيدې او شخصيت ته زيان رسوي.

# ﴿ صلاة التسبيح ﴾

٩٧)ـ (سُبْحَانَ اللَّهِ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ وَلاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ.)

گټه او يادونه:

عبدالله بن عباس رضی الله عنهما نه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم عباس بن عبدالمطلب ته وويل: ای عباس ای تره! ايا زه تاته عطيه در نه کړم، ايا زه تاته ډالۍ درنه کړم، ايا زه تاته ونه ښايم، ايا زه پر تا لس خصلتونه (کارونه) ونه کړم؟ چې که ته هغه اختيار کړې، نو الله تعالی به ستا گناهونه مخکيني، وروستني، پخواني او نوي، سهواً او قصداً، کوچني او غټ، پټ او ښکاره (ټول گناهونه) وبښي، (هغه دا دي) چې ته څلور رکعته لمونځ په داسې طريقه وکړې، چې په هر رکعت کې سورت فاتحه او يو سورت ولولې، کله چې په لومړي رکعت

ketabton.com - The Digital Library



کې د قرائت نه فارغ شې او ته ولاړ يې، نو پينځلس ځلې به دا تسبيح ووايې:

(سُبْحَانَ اللَّهِ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ وَلاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ)، بيا به رکوع وکړې، په هغې کې به يې لس ځلې ووايې، بيا به د رکوع نه سر پورته کړې (سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ) نه وروسته په ولاړه کې به يې لس ځلې ووايې، بيا به سجدې ته لاړ شې او په سجده کې به يې لس ځلې ووايې، بيا به سجدې نه سر پورته کړې (د دوو سجدو منځ کې) به يې لس ځلې ووايې، بيا به سجده وکړې او په سجده کې به يې لس ځلې ووايې، بيا به له سجدې نه سر پورته کړې، له قيام (درېدلو) مخکې، په جلسه د استراحت کې به يې لس ځلې ووايې، نو دا په هر رکعت کې پينځه اويا ځلې شو، دغه شان کار به په څلورو رکعتونو کې کوې.

که ستا طاقت وي، چې دا لمونځ هره ورځ يو ځل وکړې، نو ويې کړه او که هره ورځ يې نه شې کولای، په هره اونۍ کې يې يو ځل کوه او که په هره جمعه کې يې نه شې کولای، په هره مياشت کې يې يو ځل کوه او که په هره مياشت کې يې نه شې کولای، په هر کال کې يې يو ځل کوه او که په هر کال کې يې نه شې کولای، نو په ټول عمر کې يې يو ځل (خو ضرور) وکړه.(1)

## ﴿ صلاة حاجت ﴾

۹۸)ـ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى الْأَسْلَمِيِّ رضى الله عنهما، قَالَ: خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم، فَقَالَ: مَنْ كَانَتْ لَهُ حَاجَةٌ إِلَى اللَّهِ، أَوْ إِلَى أَحَدٍ مِنْ خَلْقِهِ، فَلْيَتَوَضَّأْ وَلْيُصَلِّ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ لِيَقُلْ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ الْحَلِيمُ الْكَرِيمُ، سُبْحَانَ اللَّهِ رَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ، الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مُوجِبَاتِ

1. الحق الصريح ۵جلد- ۳۷۴مخ.

ketabton.com - The Digital Library



رَحْمَتِكَ، وَعَزَائِمَ مَغْفِرَتِكَ، وَالْغَنِيمَةَ مِنْ كُلِّ بِرٍّ، وَالسَّلَامَةَ مِنْ كُلِّ إِثْمٍ، أَسْأَلُكَ أَلَّا تَدَعَ لِي ذَنْبًا إِلَّا غَفَرْتَهُ، وَلَا هَمًّا إِلَّا فَرَّجْتَهُ، وَلَا حَاجَةً هِيَ لَكَ رِضًا إِلَّا قَضَيْتَهَا لِي، ثُمَّ يَسْأَلُ اللَّهَ مِنْ أَمْرِ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ مَا شَاءَ، فَإِنَّهُ يُقَدَّرُ. [1]

**ژباړه: عبدالله بن ابي اوفی رضی الله عنهما وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم موږ ته راووت، ويې ويل: د چا چې الله تعالی لره څه حاجت يا کار بند وي، يا يې له بنيادمانو څخه کوم کس ته څه حاجت وي، اودس دې وکړي، بيا دې ووايي :**

لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ الْحَلِيمُ الْكَرِيمُ، سُبْحَانَ اللَّهِ رَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ، الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مُوجِبَاتِ رَحْمَتِكَ، وَعَزَائِمَ مَغْفِرَتِكَ، وَالْغَنِيمَةَ مِنْ كُلِّ بِرٍّ، وَالسَّلَامَةَ مِنْ كُلِّ إِثْمٍ، أَسْأَلُكَ أَلَّا تَدَعَ لِي ذَنْبًا إِلَّا غَفَرْتَهُ، وَلَا هَمًّا إِلَّا فَرَّجْتَهُ، وَلَا حَاجَةً هِيَ لَكَ رِضًا إِلَّا قَضَيْتَهَا لِي يَا أَرْحَمَ الرَّاحِمِينَ.

**بيا دې الله تعالی نه وغواړي، څه چې غواړي، که د دنيا او که د اخرت اړوند وي، ځکه دا دعا قبلېږي.**

# ﴿ د استخارې لمونځ ﴾

٩٩)ـ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رضى الله عنهما، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم يُعَلِّمُنَا الِاسْتِخَارَةَ كَمَا يُعَلِّمُنَا السُّورَةَ مِنَ الْقُرْآنِ، يَقُولُ: " إِذَا هَمَّ أَحَدُكُمْ بِالْأَمْرِ، فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ مِنْ غَيْرِ الْفَرِيضَةِ، ثُمَّ لِيَقُلْ: اَللَّهُمَّ إِنِّي أَسْتَخِيرُكَ بِعِلْمِكَ وَأَسْتَقْدِرُكَ بِقُدْرَتِكَ وَأَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ الْعَظِيمِ فَإِنَّكَ تَقْدِرُ وَلَا أَقْدِرُ وَتَعْلَمُ وَلَا أَعْلَمُ وَأَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوبِ اللَّهُمَّ إِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الْأَمْرَ خَيْرٌ لِي فِي دِينِي وَمَعَاشِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي أَوْ قَالَ عَاجِلِ أَمْرِي وَآجِلِهِ فَاقْدُرْهُ لِي وَيَسِّرْهُ لِي ثُمَّ بَارِكْ لِي فِيهِ وَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الْأَمْرَ شَرٌّ لِي فِي دِينِي وَمَعَاشِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي أَوْ قَالَ

[1] سنن ابن ماجه (1/ 441)

ketabton.com - The Digital Library



فِي عَاجِلِ أَمْرِي وَآجِلِهِ فَاصْرِفْهُ عَنِّي وَاصْرِفْنِي عَنْهُ وَاقْدُرْ لِي الْخَيْرَ حَيْثُ كَانَ ثُمَّ أَرْضِنِي بِهِ، وَيُسَمِّي حَاجَتَهُ.[1]

**ژباړه: جابر بن عبدالله رضى الله عنهما وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم به موږ ته په چارو کې د استخارې دعا داسې رابنودله، لکه څنګه به يې چې موږ ته د قران کريم يو سورت رازده کاوه، ويل به يې: کله چې ستاسو يو کس د څه کار اراده وکړي، نو د فرضي لمانځه پرته دې دوه رکعته لمونځ وکړي او خپل حاجت دې ونوموي، بيا دې داسې ووايي:** اَللَّهُمَّ إِنِّي أَسْتَخِيرُكَ بِعِلْمِكَ وَأَسْتَقْدِرُكَ بِقُدْرَتِكَ وَأَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ الْعَظِيمِ فَإِنَّكَ تَقْدِرُ وَلَا أَقْدِرُ وَتَعْلَمُ وَلَا أَعْلَمُ وَأَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوبِ اللَّهُمَّ إِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الْأَمْرَ خَيْرٌ لِي فِي دِينِي وَمَعَاشِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي أَوْ قَالَ عَاجِلِ أَمْرِي وَآجِلِهِ فَاقْدُرْهُ لِي وَيَسِّرْهُ لِي ثُمَّ بَارِكْ لِي فِيهِ وَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الْأَمْرَ شَرٌّ لِي فِي دِينِي وَمَعَاشِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي أَوْ قَالَ فِي عَاجِلِ أَمْرِي وَآجِلِهِ فَاصْرِفْهُ عَنِّي وَاصْرِفْنِي عَنْهُ وَاقْدُرْ لِي الْخَيْرَ حَيْثُ كَانَ ثُمَّ أَرْضِنِي بِهِ.

# ﴿له مجلس نه د پاڅېدلو دعا﴾

۱۰۰)ـ عَنْ أَبِي بَرْزَةَ الْأَسْلَمِيِّ رضى الله عنه، قَالَ: لَمَّا كَانَ بِآخِرَةٍ، كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم إِذَا جَلَسَ فِي الْمَجْلِسِ، فَأَرَادَ أَنْ يَقُومَ قَالَ: " سُبْحَانَكَ اللهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ. أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ)[2]

**ژباړه: ابو برزة رضى الله عنه وايي : رسول الله صلى الله عليه وسلم به د مجلس په اخر کې ياڼې کله به يې چې د پاڅېدلو اراده وکړه، داسې به يې وويل :** (سُبْحَانَكَ اللهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ. أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ)

---

[1] .صحيح البخاري

[2] مسند أحمد ط الرسالة (33/ 47)

ketabton.com - The Digital Library



**په دې هيله چې مسلمانې خويندې د خپلو مجلسونو په پای کې دا نبوي سوغات هېر نه کړي او هم مور د خپلو دعاګانو په لپه کې ياد وساتي.**

(وَصَلَّى اللَّهُ عَلَى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ النَّبِيِّ وَآلِهِ وَسَلَّمَ)

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*